په سپ ي کښې د پرهر حال درته څه ووايم
خو بس يو ګل راغوړېدلے دے تپوس مۀ کوه

اپشمه

اسير منګل

پښتو عالمی کنونشن، پېښور

ددي کتاب هر څۀ زما دی
زۀ پکښې واک د بل سړی کله منمه

کتاب : اپشمه

شاعر : اسیر منګل

انتخاب پروفیسر محمود ایاز

شمېره : یو زر (۱۰۰۰)

اول چاپ اکتوبر ۱۹۹۹ء

دویم چاپ : مارچ ۲۰۰۷ء

دریم چاپ جون ۲۰۱۱ء

بیه : دوه نیم سوه ۲۵۰ روپۍ

کمپوزنګ : رحمت دیوان (0345-7030719)

rehmatdewan@gmail.com

درکونه

۱ پښتو ادبی چمن ټل

۲ دانش کتاب خانه، پېښور

۳ یونیورسټی بک ایجنسی، پېښور

د

هغې

ابشمې

په نوم

چې زما د قام

په انګړ کښې

یو نوے ګل

راوټوکوی

ترتیب

شمېر	سرلیک		مخ
۱.	د منګل په شاعرۍ یو نظر	ډاکټر محمد اعظم اعظم	۱۲
۲.	تقریظ	خاورې محمود ایاز	۲۰
۳.	خپلې خبرې	اسیر منګل	۲۴
۴.	ماسره ټکی نشته		۲۸
۵.	خوږ جاناز		۲۹
۶.	تا چې ګل ګوتې اوربل کړے دے		۳۱
۷.	ږمنځ د ښکلیو اوربلونه چېرې		۳۳
۸.	ګرځوی ښکلی په خپل زړۀ کښې چې څوک		۳۳
۹.	زړۀ دې چې مدام باور په دۀ کوی		۳۴
۱۰.	نشته دومره نشته په بل څۀ کښې زور		۳۵
۱۱.	کرکه خوره لکه خپسه ده په زړونو باندې		۳۶
۱۲.	پرېږده چې ګرځم پرهرونو سره		۳۷
۱۳.	بخت خپله پښو ته رالوېدلے دے تپوس مۀ کوه		۳۸
۱۴.	دا زما او ستا حالونه به څوک وائی		۳۹

۱۵.	ګل ګورم د ګل سره ازغی ګوره	۴۰
۱۶.	څوک په کوڅه څوک په خپل در قتل دے	۴۱
۱۷.	غر دے که ګړنګ دے څومره ښۀ لګی	۴۲
۱۸.	تۀ چې راروان ئې راوریږی پسرلی	۴۳
۱۹.	تور شوم خو خال دې د جبین نۀ شوم	۴۴
۲۰.	ستا تصویر چې پکښې پړق وهی غړیږی	۴۵
۲۱.	وړی خوارۀ چې کله ځی خوارۀ ملګری	۴۶
۲۲.	د زړونو ښکار کوی کونترې ګرځی	۴۷
۲۳.	زلفې ۰ ې تاؤ واخلی اوربل جوړیږی	۴۸
۲۴.	خود به اوځم خود نه خمارونو باندې واوړید	۴۰
۲۵.	مزدور	۵۰
۲۶.		۵۱
۲۷.	پښتنه پېغله	۵۳
۲۸.	کافره ژبه	۵۶
۲۹.	خپلې خاورې ته	۵۸
۳۰.	واوره په غرۀ	۶۰
۳۱.	وایمه رښتیا، ډېره ظالمه دے	۶۳
۳۲.	چې جدا رانه جانان شه ورک له ما ځنې جه ن شه	۶۴

۳۳. لوپټه مخ نه ئې ښوئېده څومره ښائسته لګېده ۶۵
۳۴. تا ایښی دی چې نن د زلفو ولونو کښې ګلونه ۶۶
۳۵. ستا په راتلو غوټې د زړهٔ ورکېږی ۶۷
۳۶. راوړم تاته رنګونه د لمبو په لوری ځمه ۶۸
۳۷. تا چې کله زهٔ د زړهٔ نه وویستم ۶۹
۳۸. ستا د زلفو د کمڅو سرونه نیسم ۷۰
۳۹. ستا راتلهٔ داسې په ړونو باندې لګی ۷۱
۴۰. ژوندے کردار د پښتنو ښکلؤ ۷۲
۴۱. ما په ژوندونی کړلو مړے وجود ۷۳
۴۲. کلی کښې جوړه ګنګوسه غوندې د ۷۴
۴۳. دا فضا خوږه چې له ګبینه د ۷۵
۴۴. د مودې پس غږ د جانان وشولو ۷۶
۴۵. مخ ئې ډیوې غوندې چې بل وی لیونے کړی سړے ۷۷
۴۶. پورې کوی اور په جهان ښکلی ۷۸
۴۷. زلفې چې تهٔ نن لنډوې زهٔ به خوبونه وینم ۷۹
۴۸. د مدینې په لور ۸۰

۴۹. اے ښکلي سپوږمی ۸۱
۵۰. ستر حمزه ۸۳
۵۱. د باګرام طوطی ۸۵
۵۲. محمد دین مقید ۸۸
۵۳. انځر ګر ۹۰
۵۴. انساز ۹۲
۵۵. د تاریخ پاڼه ۹۴
۵۶. قصه ختمه شوه ۹۶
۵۷. د یو پښتون په مرګ ۹۸
۵۸. پرون او نن ۹۹
۵۹. سندره ۱۰۱
۶۰. بې وسی ۱۰۳
۶۱. نعت ۱۰۵
۶۲. د هر یو زړه تکور ۱۰۶
۶۳. هغه اسیر هغه منګل وخېژی ۱۰۹
۶۴. ژوند چې دچا په انتظار تېرېږی ۱۱۰
۶۵. زهٔ سوزېدم ما رانیول رنګونه ۱۱۱
۶۶. تور لوګے، توره کېږدۍ ده تک تور غر دے ۱۱۲

۶۷. نۀ سپوږمۍ ښکاري نۀ نمر خو رڼا وینم ۱۱۳
۶۸. وخت لکه تریخ دے مرچکے خوږې خبرې نشته ۱۱۴
۶۹. خدائې ګو که خبر له دې جهان یمه ۱۱۵
۷۰. هر سړے سوزی هر چا اور اخستے ۱۱۶
۷۱. وږدې زلفې منګرۍ وې د کوم ښکلی ۱۱۷
۷۲. داسې هم نۀ ده کله کله به یاد پږم درته ۱۱۸
۷۳. نۀ مې سحر کړلو سهی نه ماښامونه چرته ۱۱۹
۷۴. داسې ئې توره نۀ خنجر غوڅوی ۱۲۰
۷۵. د بېلتانه سارۀ وهلے یم تود پږمه لږ ۱۲۱
۷۶. د رڼه اوښکو په رڼا کښې ستا تصویر جوړؤ ۱۲۲
۷۷. ایښی دې اوربل کښې چې د ګل په رنګ کلپپونه دی ۱۲۳
۷۸. د زخمی زګی خبره ۱۲۴
۷۹. یووالے ۱۲۶
۸۰. سندره ۱۲۸
۸۱. مور ۱۲۹
۸۲. ایماز ۱۳۱
۸۳. ملګرو وار اوکړئ درځمه ۱۳۲
۸۴. په دې رنګ دنیاګۍ کښې ۱۳۳

۸۵. د وطن په نوم ۱۳۵
۸۶. له هر یو ښکلی صدقه مې کړه ۱۳۸
۸۷. یارۍ بلا خلق سوزېدلی دی ۱۳۹
۸۸. هم مسیحا هم مې اجل ته ئې ۱۴۰
۸۹. نۀ خبر ئې څوک راوړی نۀ راستنې دی ۱۴۱
۹۰. په خلۀ به څه وائی چې کوم یمه زۀ ۱۴۲
۹۱. د خپلو ډېرو ارمانونو مینې کښې ۱۴۳
۹۲. هغه د هر چا نا وی ښه په زمکه ۱۴۴
۹۳. ژوند کښې رنګونه خورؤم ښکلے دلبر لټؤم ۱۴۵
۹۴. هره ورځ سوزم په اور کلے خاموش دے ۱۴۶
۹۵. سپوږمۍ ته ګورمه، ګلونه به څارم درپسې ۱۴۷
۹۶. کلے به پرېږدمه تا نۀ پرېږدمه ۱۴۸
۹۷. په تېرو کانړو لګېږم نۀ پوهېږم ۱۴۹
۹۸. ستا نظر چاره چاره ۱۵۰
۹۹. وخت شو د ګل چې غوټۍ ځ ن څیرې کړو ۱۵۱
۱۰۰ خپل چې نه شولو نیتونو کښې ځ ۰ ل شته ۱۵۲
۱۰۱ د ګټې وخت دے قربانی څۀ کوی ۱۵۳
۱۰۲ سد، ته شین دے ډیوې بلاګانې ۱۵۴

۱۰۳ پیچومے توره کېږدۍ واوره ۱۵۵
۱۰۴. کُرمه ۱۵۶
۱۰۵ سېزل کوی لمبې دی ۱۵۸
۱۰۶. د زړهٔ خبره واګې ۱۶۰
۱۰۷ چې ووایو سندرې ۱۶۱
۱۰۸. د چنار ونې د لانې ۱۶۳
۱۰۹. تهٔ چې مئین ئې په رنګونو ۱۶۵
۱۱۰ د حسین رض په غم ۱۶۶
۱۱۱. لویه خدایه ۱۶۸
۱۱۲ ملامت ابشمه ۱۷۰
۱۱۳. د غرونو سر له ځمه ۱۷۱
۱۱۴. عقل کار پرېښو په راستۍ بې خود ۱۷۳
۱۱۵. کېږو به نه
۱۱۶ سپینې سپینې خلې، د تورې شپې وعدې؟ ۱۷۴
۱۱۷. هر سړی رد کړمه قابل ئې د نصاب نهٔ کړمه ۱۷۵
۱۱۸ چې شپه شوه لونګینه ګل لالے لکه راځی ۱۷۶
۱۱۹. نهٔ کوم ګیله کهٔ مې اشنا پوښتنه نهٔ کوی ۱۷۷
۱۲۰. څه بده ورځ ده سر ئې نه وی سر خوړلے ښکاری ۱۷۸

۱۲۱.	تۀ خو رانغلې اوس رڼا وایه له چا راوړمه	۱۷۹
۱۲۲	کلے ټول چې اودۀ پروت وی	۱۸۰
۱۲۳	لکه د شمعې سوزۀمه زړګے	۱۸۱
۱۲۴	د شوخو ستګو پو وړے یمه	۱۸۲
۱۲۵.	یو مازیګر د تېر ژوندون ډالۍ کړی	۱۸۳
۱۲۶.	سترګې دې مۀ اړوه لولمه تحریر د حُسن	۱۸۴
۱۲۷.	ښکلی که ډېر مې کړل یاران یو مې زړګے نه کړلو	۱۸۵
۱۲۸.	حسن له ډېره نزاکته زېږوی شکونه	۱۸۶
۱۲۹	د ګل ماتم کوی سپرلی یادوی	۱۸۷
۱۳۰.	بیا چنارونو نۀ د شنو بنګړو شرنګا وخته	۱۸۸
۱۳۱.	رپېږی ټوله له هیبت، راځه چې مینه وکړو	۱۸۹
۱۳۲.	ستا له مخه	۱۹۰
۱۳۳	غوټۍ سپړی ګلونه	۱۹۱
۱۳۴.	د پلار په قبر	۱۹۲
۱۳۵	یو چغه شی اختر شی	۱۹۴
۱۳۶.	د کور خبره	۱۹۶
۱۳۷	دعا	۱۹۸
۱۳۸.		۱۹۹

د منګل په شاعرۍ یو نظر

د پښتو شاعرۍ روان دور د پښتو ژبې او ادب دپاره د نوې ځوانۍ زېږے دے او د ازادۍ نه پس چې د پښتو شعر کاروان د نوی ژوند او جدیدیت په کوم ګټه ور او پنګه ور سفر روان شوے وو دغه سفر ته مونږ له هره لوریه د کامرانۍ سفر وئیلې شو.

هسې خو دغه سفر اولنے منزل د شلمې صدۍ د ازادۍ د تحریکونو سره تړلے راروان وو او په پښتو شاعرۍ کښې د دغې تحریکونو په ترڅ کښې د قامی او انقلابی سوچ او فکر سره د نړیوال ادب واړه جدید رجحانات شامل شو. او د خیال او فکر سره سره د هیئت په توګه هم د پښتو شعر جوړه بد ، شو.

خو د شلمې صدۍ په دریمه برخه کښې زمونږ شا، رۍ د نوی وخت د غوښتنو سره سره ، شعری محاسنو لوړو معیارونو ته ځان برابر کړو.

په دغه دوره کښې زمونږ په ژبه کښې د عالمی شهرت او معیار ګڼ شمېره شاعران مخې ته راغلل چې په هغو کښې ځنې کسان داسې هم وو چې مونږ ورته رجحاز سازه (**Trend Makers**) شاعران وئیلې شو او هم ددغه اتلانو د ستري پائې د لیکونو، د هغوی د کارنامو او د هغوی د نامو د اثر لاندې په زلمی کُول کښې د شلمې صدۍ تر اخره پورې دومره شاعران مخې له راغلل چې شمېره ئې هم ګرانه د، .

خبره تشه د مقدار نۀ ده؛ د معیار له لوریه هم زمونږ د موجوده دور د اکثرو زلمو شاعرانو په کلام کښې د اوچتې پائې په زړۀ پورې نمونې په دَلو دَلو موندے شي . او په دې وېنا کښې به هم مبالغه نۀ وی چې روان دور د پښتو د جدیدې شاعرۍ د شعور د پوخوالی دور دے . کۀ هره و ځ او هره هفته نۀ نو هره میاشت خو ارو مرو یو ه، یا د یوې نه زیاتې شعری مجموعې چاپ کېږی .

د نوی کُول ددغه ګڼ شمېره شاعرانو ترمینځه چې په روان دور کښې د شمېر څو داسې شاعران مخې له راغلی دی چې هغوی کم نه کم د تېرو لسو کالو راسې ځان ـه د ادب په دنیا کښې یوه پېژندګلو او مقام ټاکلے دے نو هغه به یقیناً د شـ عرۍ یو معیار لری، د زلمې کُول په دغو شاعرانو کښې ښاغلے اسیر منګل هم یو داسې نوم دے چې د خپل خوندورشعر ا مـ یاری کلام له برکته ئې ځان له یومقام ا ر ځائے ټاکلے دے .

اسیر منګل یو شاعر هم دے او یو پروفېسر هم او د یو پروفېسر په حیث هغه د ژبې او ادب یو بشپړ پس منظر (Background) هم لری . او یقیناً چې د خپلې ژبې د شعری روایاتو او د ښې شاعرۍ د رموزو د کوز پاس نه په هر کچ او هر تول خبر دے .

هغه یو خوش خلقته او خوږ زبانه بنیادم دے او د خپل عام ژوند په شان د هغۀ د کلام په مصرعه مصرعه کښې هم د هغۀ د شخصیت خوږوالے او پوست و لے د غمو په شانې برېښی . او دا خو د ادبی تنقید یوه زړه او مشهوره کُلیه ده چې د لیکوال په لیکونو کښې به د هغۀ د

شخصیت سیورے لیدے شي . د اسې منګل د ، خصیت دغه زړۀ رابنکونکے رومانیت د هغۀ په رومانوی غزل کښې په رنګ رنګ ځان ښائي .

اوس دې تعبیـــر پســـې ګرځېـــږی خلـــق
بېګـا مې خـوب ستا پـه څنګل کـړے دے

☆☆☆

بخـت خپلـه پښـو تـه رالویـدلے دے تپـوس مـۀ کـوه
یـار پـه تپـوس زمـا راغلـے دے تپـوس مـۀ کـوه
چې پـه اوبـو کښـې هـم لمبـې کـوی بڅـری کـوی
زړۀ مـې پـه داسـې اور سـېزلے دے تپـوس مـۀ کـوه

☆☆☆

لکـــه د شـــمعې ســـوزومه زړګـــے
مابنـــام چـــې تـــور شـــی بلؤمـــه زړګـــے
یـــو نظـــر بیـــا ســـتا د دیـــدن دپـــاره
تـــوتې تـــوتې راتولؤمـــه زړګـــے

☆☆☆

په ساده ټکو او پسته هواره ژبه کښې دا قسم نوی خیالات وړاندې کول د اوچت شاعر او اوچتې شاعرۍ علامت دے.

په غزل کښې د تغزل شعور د نوی تخیل سره یو ځائے کول د یو ښهٔ غزل ګو شاعر کار دے او منګل د دغه فن له رموزو سره بلدتیا هم لری او د هغې د وړاندې کولو اهلیت هم.

زهٔ ستا د زلفو پیچ و خم پیژنم
ما تورو غرونو کښې مزل کړے دے

☆☆☆

د زلفو د پیچ و خم روایتی تذکرې زمونږ په غزل کښې د پخوا راسې راروانې دی خو په تورو غرونو کښې د مزل تشبیه په اول ځل، زما تر فهمه، ښاغلی منګل راوړې ده او ددغې تجربې او مشاهدې په شا د منګل ذاتی قبائیلی او غرئیز ژوند هم پروت دے.

اسیرمنګل د خپل کلی وال او اولسی ژوند دغه تصویرونه د یو رسېدلی مصور په څېر په خپلو غزلونو کښې ځائے په ځائے په ډېرو زړهٔ راښکونکیو او حقیقی رنګونو کښې دنیا ته وړاندې کوی.

بې زما او ستا نه به بل وائی څهٔ
جوني چې مجلس په تنارهٔ کوی

☆☆☆

شپې چې د لونګو بوئی شورو کړلو
ښکاری راروانه لونګینه ده

☆☆☆

د جانـــــان ســـــترګې بـــــه دې وړی منګلـــــه
ګرځـــي چـــي تـــۀ د دې ســـيندونو مې نـۍ کښـــې

☆☆☆

صنائع بدایع د غزل په زمکه هغه روایتی ګل پاشی کوی چې د غزل مرغز ونه پرې د پخوا راسې تازه او ښائسته راروان دی او پروفېسر اسیر منګل ددغې حقیقت پوخ شعور لری .

تـــور شـــوم خـــو خـــال دې د جبـــين نـــۀ شـــومه
ويښـــتۀ مـــې ســـپين شـــولو زۀ ســـپين نـــۀ شـــومه

☆☆☆

لکـــه ګـــل بـــه خپلـــه لاس لـــه زمـــا راشـــی
د تېـــــرو تېـــــرو ازغـــــو ســـــرونه ښســـــم

☆☆☆

د کلی وال ماحول ذکر چې راشی نو یو خوا که د منګل د جذباتو کُرما په چپو شی خو بل خوا د حسرت نه ډک بادونه هم د هغۀ یادونه د ځان سره والوزوی .

بیـــا هغـــه رنـــګ کلـــی تـــه نـــۀ ورځمـــه
څـــوک بـــه ولاړ وی دېوالونـــو ســـره

☆☆☆

او هم ددغو حسرتونو په ډېرى ډېرى خاؤرو باندې زمونږ شاعر ځان له د خيالونو د تاج محل جوړولو بنا كوى .

خبــر دے تــاج محــل كــۀ نــۀ وى نــۀ دې وى
زۀ پــه خپــل كنــډر كښــې شــاه جهــان يمــه

☆☆☆

او د خپل ړنګ كلى محرومى او بې وسى چې د ژوندى حقيقتونو په شكل كښې د هغۀ نه راچاپېره شى نو د هغۀ بې وسه مينه هغه له ګوتې نيولے ښاريو ته په سفر مجبوره كړى او چې د هغۀ تخيل د ښار په سِحر كښې اسير شى نو د منګل قلم ثۀ دا رنګې ګويا شى :

د زړونــو ښــكار كــوى كــونترې ګرځــى
ښــار تــه لاړ نــۀ شــې جــادوګرې ګرځــى

☆☆☆

د اسير منګل په غزل كښې د حسن و عشق د مضامينو او رومانوى خيالاتو سره سره د خپل چاپېرچل ژوندى او تراخۀ حقيقتونه هم موجود دى او د غم جانان سره د غم دوران زېړې زبېښنې څهرې هم پكښې ليدے شى .

د چــا پــه زړۀ كښــې مينــه پــاتې نــۀ شــوه
هــم پــه عاشــور هــم پــه اختــر قتــل دے

☆☆☆

مـــونږ کلـــه بخښـــو د ښـــکلاګانو قـــاتلان
مـونږ کلـه لیـدے شـو چـې قتلېـږی پسـرلی

☆☆☆

او هغه رنګ د اسیر منګل د غزل نه زیات د هغهٔ په ځنو نظمونو کښې زیات په وضاحت سره لیدے شی کوم ته چې مونږ تفسیرِ حیات " هم وئیلے شو او تنقیدِ حیات هم.

په دغو نظمونو کښې انسان ، مور ، کافره ژب ، خپلې خاؤرې ت ، انځورګر" او د ماګرام طوطی ' د فن او مقصد په دواړو غاړو ماړهٔ او خوارهٔ نظمونه دی.

د اسیر منګل د شاعری په هغو برخو کښې د هغهٔ د فکر او خیال ګلشنونه د هغهٔ د فن په شوخو رنګونو کښې خپل ګلونه وسپړی چرته چې هغه د خپل کور کلی په لارو کوڅو او د هغې نه په چاپېره حسینو ورشوګانو راتې بړی. د فطرت په رنګینو ماموره دغه ښائسته ننداري یوه رومانی او روحانی تازګی ورکوی او د ټل او کُرمې په دغه ګلورین ماحول کښې اسیر شاعر چې کومې نغمې سازوی هغې ته مونږ د فطرت ساهو مصوری وئیلے شو.

د نمونې په ډول د چنار د ونې لاندې نومې کوچنی نظم کښې د منظرنګ ی رنګ ئې د کتو دے او د جذباتو ښ ساخته چپې هم:

چې ناست به زهٔ او تهٔ وو د چنار ونې د لاندې
نری نری به کُرمه بهیده زمونږ په وړاندې
شپېلی ته به پُوکے ورکړلو چا د تُوت په خوا کښې

یو خوږ غوندې د مینې غږ به خور شو په هوا کښې
فضا به شوه نغمه نغمه د سوز په دې وا ک ې
په زړونو کښې جذبې د محبت به ئې کړې تاندې
نرۍ نرۍ به کُرمه بهېده زمونږ په وړاندې
خوره به چې شوه ایشمه ستا د زلفو ښادې مخ نه
کاروان د رنګ و بوبه راروان شو ستا د مخ نه
جنت به شولو جوړ زما د ژوند د سور دوزخ نه
په نیت د نظرماتی به لمبه کړلې چا سپاندې
نرۍ نرۍ به کُرمه بهېده زمونږ په وړاندې

د ښاغلی منګل په دې شعری مجموعه کښې د غزلونو او نظمونو نه علاوه د هایکو په نوی صنف کښې هم ښکلې او بې ساخته شاعری پرته د، د هغې نه علاوه ځنې ښائسته او خوندورې سندرې ئې بنده په خپل کیف او سُرور کښې ډوبوی ددې سره سره ئې زمونږ د شعر په رائجو نورو صنفونو کښې هم ښکلې شاعری کړې ده او په مجموعی ډول دا مجموعه د پښتو شعر د موجوده دور په پنګه کښې یوه ښکلې او ګټه وره اضافه د،.

پروفیسر ډاکټر محمد اعظم اعظم
حیات اباد پېښور
نېټه ۳۱ جنورۍ ۲۰۰۷ء

تقریظ

کله چې خدائی پاک دا دنیا وپنځوله او د خپل حقیقت د اظهار د عقیدت لـ ماره ئې ادم تخلیق کړو نو ورسره ورسره ئې هغه کیف او سُرور هم تخلیق کړل چې له خُم نه شاعری زیږی صرف دا هم نۀ، بلکې د شعر استازے (Goddess of Poetry) ئې هم تخلیق کړ چې په شاعر باندې د الهام رحمت د سندرو په صورت کښې وروی .

شعر په رښتیا هم د یو غیر محسوس قوت دویم نوم دے او یا به د شاعر د ذات عکس العمل ورته ووایو که شعر فن دے نو زما په خیال ګران اسیر منګل له دې فن سره اشنا دے، نو ځکه زۀ ورته په فنکار (Artist) ئیلو عار نۀ محسوسؤم خو دا بیله خبره، چې په دې فن باندې هغه ګرفت څومر لری؟ دا ځان له بحث دے؟

د مینې او عشق د عالمګیرې موضوع نه پرته، اسیر منګل د خپل معروض بلا موضوعات د خپلې شاعری زینت ګرځو ی دی . دې زلمی او روشن فکره شاعر ، په ډیره ساده ژبه ډیر سپیځلی او ژور احساسات په ډیر فن او هُنر د تخیل و شیرین جهان ته سپارلی دی . ځائی په ځائی ئې شاعری د رومانوی تحریک رد عمل ښکاری . دغه رنګ کله نه کله قاری پکښې د ترقی پسند تحریک د عقیدې او نظرئې خوارۀ محسوسوی . کله د داخل تر کیفیت لاندې شعرونه وائی او د خارج او معروض پامته دار ښکاری .

خو کۀ د لږ ساعت دپاره مونږ د شاعرۍ په دې اوږد او نۀ ختمېدونکی د ستان یو نظر واچوو نو دومره وئیل به غېر ضروری نۀ وی چې د شعر سفر نن تر ډېرو پړاوونو راتېر شوے دے . د شعرو شاعرۍ په اړه ډېرې نظرئې راغلې او بیا یو مخ لاړې پو پنا شوې . دلته د دې خبرې نه زما مقصود او منظور دادے چې نن شاعر د شاعر نه - د نن مروج روایت مطابق د شعر وئیلو غوښتنه کوی . د فرائیډ په قول، بائد نن مونږ د لاشعور له لارې د خپل عصر د ترخو حقائقو نمائندگی او ترجمانی وکړو ولې هغه وائی چې زمونږ شعور خالص نۀ دے پاته شوے ځکه مونږ د شیانو واصل ته او حقیقت ته نۀ شو رسېدلے . زمونږ په دې تخلیقاتو کښې ځکه (Originality) نشته؛ ولې چې دا د شعور له لارې منظر عام ته راغلی دی . نن د ترقی پسندۍ په حقله نقادان دا وائی چې ترقی پسندی په هره زمانه کښې د انسان په خمیر کښې موجوده پاته شوې د، په هر دور کښې انسان د خپل شعور مطابق هغه هومره روشن فکر او ترقی پسند و ګوا دا څۀ یو نوے تحریک نۀ ؤ . زۀ در حقیقت وئیل دا غواړم چې یو لیکوال هغه که د ادب له هر صنف سره تړلے وی، سنجیده او کوټلې مطالعه د هغه لپاره ډېره ضروری د، . لکه ما چې مخکښې ووئیل چې د اسیر منګل په شاعرۍ کښې شاعرانه سحر یا شعری خوږلت شته او د مزید پېش رفت امکانات هم پکښې په غورزنګ ، کاری خو شرط دادے چې اسیر منګل باید چې و دې کار ته نور هم سنجیده شی .

اسیر منګل د یو حساس زړۀ خاوند دے . کله د عشق له لېونتوب سره مخامخ وی او کله د وطن په دې بدې ورځې ویر ژړا کوی . هغه پخپله خاوره د زخمونو پسرلے نه شی لیدلے ځکه د خپلې بدبختې خاورې ته د امن فرښته په چغو چغو رابولی د خودۍ او خودداری ئې دا حال دے چې سر خو بائللے شی خو د غلیم او ظالم ترانې د قلم په مقدسه ژبه نۀ شی لیکلے . خو د یو مزدور په قصیده وئیلو فخر محسوسوی، په پښتو مئین دے ځکه د پښتونوالې شمله هر وخت جګه لیدل غواړی :

زمونږ شمله خو دا ده ټیټه نۀ وه
زمونږ سیالی وه اسمانونو سره

د وخت له هر منصور سره بې کچه محبت او عقیدت لری؛ ولې چې د اسیر منګل عقیده او نظریه داده چې حق حق دے او باطل باطل، پخپل یو شعر کښې د دې عقیدت اظهار په شاعرانه هنر داسې کوی :

لکه څوک بل منصور په دار وختو
نن یوه لویه هنګامه غوندې ده

د دې مطلب دادے چې په دې شعری اثر کښې یو شمېر معیاری او مقصدی اشعار هم ځائی لری . ګوا موصوف اسیر منګل د مقصدی

شاعرۍ قائل ښکاري بلکې ضروري ئې ګڼو دغه رنګ د سادګۍ، بې ساختګۍ سره سره په دې شاعرۍ کښې قاري د شاعر باريک بينۍ خوا ته هم متوجه کېږي، لکه دا شعر :

په پسرلي کښې د پرهر حال درته څۀ ووايم
خو بس يو ګل راغوړېدلے دے تپوس مۀ کوه

په ذکر شوی شعر کښې شاعر پرهر ته له يو غوړېدلی ګل سره تشبيه ورکوی يو زخم ته ګل وئيل دومره لويه خبره نۀ ده خو غوړېدلے ګل ورته وئيل د شاعر د فنی کمال او فکری جوهر نشاندهی کوی، خو زۀ پکښې يوه معنا دا هم محسوسوم چې پښتون قام هر وخت له سترو او ستونځو سره مخامخ پاتې شوے دے . د وخت ظالمانو په وار وار د دې قام له و نو سره لوبې کړی دی ځکه شاعر دلته د پښتنی زغم او حوصلې خبره کوی چې نن مونږ له زخمونو سره دومره بلد شوی يو چې اوس زخم هم راته د يو غوړېدلی ګل په څېر ښکاری او ځائی په ځائی ئې داسې شعرونه هم وئيلی دی چې هغه د پښتانۀ قام د پوهې او شعور عکاسی او نمائندګی کوی . د ته چې زۀ کوم شعر نقل کول غواړم ما په خيال ډېر معنیٰ خيز فکر پکښې په شاعرانه بصيرت راغونډ کړل شوے دے :

منم چې تۀ به لولپه کړې د دې خاورې ښکلا
خو دلته هر سړے مئین دے په رنګونو باندې

زما باور دے چې اسیر منګل به زما دې ګډو وډو ۰ ببرو سره اتفاق کوی ولې چې هغه پوئی دے او په علمی تنقید باور لری .

خاورې محمود ایاز، کویټه
نېټه ۱۴ فروری ۲۰۰۷ء

اپشمه

تر څو پورې چې دنیا کښې ژوند شته ښکلا به وی او چې ښکلا وی د انساز خیالي دنیا ب په حرکت کښې وی کله چې دغه ښکلا خپل رنګونه خ روی احساسات او جذبات به ژوبل کېږی . فکرونه به اور اخلی، زړونه به درزېږی او په دې نتیجه کښې چې څۀ د کاغذ په مخ خورېږی هغه به د شاعرۍ په نوم بللے شی .

دا ټیک ده چې اوس د سائنس او ټېکنالوجۍ زمانه ده، کمپیوټر لګیا دے ډېر په تُندۍ سره د هر څۀ ځائې نیسی، خو ددې مطلب دا هم نۀ شی کېدے چې ګنې شاعری د زوال په لور روانه د. د شعر او سائنس خپلو کښې ډېر زیات نزدې تعلق دے . د خپل وخت اوچت او نامتو سائنسدانان د شاعرانو نه متاثره شوی دی . ځنو خو په خپله هم ادبی دنیا ته ډېرې زیاتې بخښنې کړې دی .

دا یو حقیقت دے چې ادب د خپلې ټولنې یو انځور وی او د چاپېرچل په مسئلو خبرې کوی . شاعری نن سبا ډېره وړاندې تلې ده، چې پکښې پښتو هم خپله برخه لری او داسې ادبی اتلان ئې زېږولی دی، چې مونږ وربانديې د سیالۍ په دې زغل کښې په ځائې فخر کولے شو .

زۀ نۀ پوهېږم چې په دې لړ کښې ما څومره کامیابی ترلاسه کړې د. اؤ اپشمه به په ادب کښې څه ځائ ونیسي ـه نه ، ولې په دې نکته

ډېر ښۀ رسېدلے یم چې شاعری یو ډېر ګران فن دے او بیا بل متاثره کول، د بل په زړۀ کښې ځائې کول ددې نه هم ډېر زیات مشکل کار دے.

خدے پاک به په دې ډېر ښۀ پوهېږی چې زۀ څۀ یمه او دا څۀ چې لیکمه ددې ارزښت څۀ دے؟ خو دومره قدرې پوهېږمه چې زما په زړۀ کښې یوه جذبه شته، یوه مینه شته چې ما په دې راپاروی چې زۀ څۀ په خپله مورنۍ ژبه کښې ولیکمه او ووایمه او بس بیا زۀ یوه روحانی خوشحالی محسوسؤمه او دا زما په اضطرابی ژوند کښې د قرار یوه ذریعه وګرځی.

په اخر کښې زۀ د خپل ګران او محترم استاد پروفېسر ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب او پروفېسر محمود ایاز صېب مننه ؤم چې زما شاعری ئې ولوسته او د قدر وړ تبصرې ئې راپېرزو کړې.

زۀ د ښاغلیو پروفېسر اباسین یوسفزی، پروفېسر ډاکټر محمد زبېر حسرت، الیاس ټلوال، غازی سیال، سلیم بنګښ او د ملک مقبول هم د زړۀ د تل نه مننه کؤم چې زما حوصله ئې یو په دوه کړه او زۀ ددې جوګه شوم چې پښتنو ته د خپلې شاعرۍ کتاب ډالۍ کړم.

د کمپوزنګ په لړ کښې د ښاغلی رحمت دیوان مننه کوم، چې ډېر په مینه او خلوص ئې دا کتاب کمپوز کړو او ماسره ئې پکښې ډېره خواری وکړه.

اسیر منګل

پښتو څانګه ، ګورنمنټ پوسټ ګریجویټ کالج نوښار

نېټه وړومبۍ فروری ٢٠٠٧ء

تـــــــوره دې تېـــــــره قلـــــــم نـــــــه جـــــــوړه کـــــــړی
تـــــــوره کـــــــهٔ دې وخـــــــت کښـــــــې پښـــــــتانهٔ کـــــــوی

ما سره ټکی نشته

چې مناسب وی ستا د شان ما سره ټکی نشته
چې ستا لوئی کړمه بیان ما سره ټکی نشته

زۀ ستا په فضل یم ژوندے زۀ نوره هېڅ هم نه یم
ما نه وا نه خلې امتحان ماسره ټکی نشته

ستا د عرفان پړدې سپړل د هر چا کار خو نۀ دے
حمد ته دې خوښ کړم کوم عنوان ما سره ټکی نشته

دومره غریب چرته زۀ ستا په بادشاهۍ کښې نۀ وم
خاندی نن ما پورې جهان ما سره ټکی نشته

خدایه ! چې تاته مې نزدې کړی را ئې وړم له کومې
د ژوند په دشته یم حیران ما سره ټکی نشته

منګل دا په ما د لوئ ذات څومره لوئ نظر دے
چې دے رنګین زما داستان ما سره ټکي نشته

☆☆☆

خوږ جانان

چرته چې ذکر خدایه ستا د خوږ جانان کېږی
هلته نزول د رحمتونو وی باران کېږی

د وخت اتل دے زمانه ئې هیڅ کوٹلے نۀ شی
ښکلی رسول(ص) سره به مینه هر زمان کېږی

څوک ئې منی کۀ نۀ منی نوم ئې په قدر اخلی
دومره عزت د کوم سړی په دې جهان کېږی

زما د زړۀ او زما ځان نه به بېلېږی څنګه
هغه محبوب چې زما زړۀ او زما ځان کېږی

مۀ کتابونه لټوه مۀ فلسفې راسپړه
د محبت مزل په فضل د سبحان کېږی

ستري خبرې سره خُلۀ هم زوروره ښائی
د پېغمبر صفت په ژبه د قران کېږی

د عقیدت دنیا وی څوک د عمر خیال نۀ ساتی
ستا د وضې خوا کښې سپین ږیرے حاجی ځوان کېږی

د ژوند بقا نشته، چې چا د یار لمن نیولې
د مرګ نه پس ئې اولسونو کښې ارمان کېږی

منګ ! ځان ئې کړه اسیر د دولت غم مۀ کوه
د مدینې سفر په تله د ایمان کېږی

☆☆☆

لوډشې ګ

ګلا ! تیاره کښې زما زړۀ ډوببږی
په تور ماښام لکه د شعې راشه
زمونږ په کلی کښې لوډشېدنګ کېږی

○

تا ګل ګوتې چې تور اوربل کړے دے
وړې سکروټې ! اور دې بل کړے دے

اوس دې تعبیر پسې ګرځېږی خلق
بېګا مې خوب ستا په څنګل کړے دے
زۀ مخکښې ځم زۀ بېرته نۀ راګرځم
ما هر یوکار په توکل کړے دے
دا څنګه تنده ده چې نۀ ماتېږی
دا مې په کومه دشته زغل کړے دے
زۀ ستا د زلفو پېچ و خم پېژنم
ما تورو غرونو کښې مزل کړے دے
ما وې سپوږمۍ به وینم نمر وختو
بېګا د بخت ستوری هم چل کړے دے

چې هر یو خیال ئې دے اسیر دایشمې
د ګل ګزار چا په منګل کړے دے

☆☆☆

O

منځ د ښکلیو اوربلونه چېرې
د سحر باد تنکی ګلونه چېرې

ستا د لمبې لمبې ځو ی نه توبه
قیامت نه مخکښې قیامتونه چېرې
کور ته به خړ درومی په خړو سترګو
څوک چې د خاورو خړ کورونه چېرې
ستا د یادونو کونډه کړی لشې
چې نیمه شپه شی پولۍ زړونه چېرې
ګل موسېدو سره ګ ی پاڼې پاڼې
دا څه بلا ده چې رنګونه چېرې
هر مسیحا ، هم پرهر باندې ږدی
هر ستمګر تنکی زخمونه چېرې
لکه باران ئې کړو جانان په ژړا
منګل وریځې، طوفانونه چېرې

☆☆☆

○

ګرځوی ښکلی په خپل زړۀ کښې چې څوک
لکه سکروټې ږدی کالۀ کښې چې څوک

پټکے د سر نه به ئې پښو ته لو ږی
نه شی سنبال په پرېوتۀ کښې چې څوک
لکه د وران مار سر په کړ ه نۀ ږدی
زۀ راولم په دائره کښې چې څوک
څاڅکو د اور لمبه سپوا کړه نوره
لونده خوشته شوه بارانه کښې چې څوک
ښکالو ئې راشی خو په خپله نۀ وی
ماته ودرېږی زما ورۀ کښې چې څوک
د دې نه بله لویه ستونځه نشته
ونه ځلېږی نمرخاتۀ کښې چې څوک

منۀ ! زۀ ورپسې ښار نه راځم
خدائی زده اوسېږی په دې غرۀ کښې چې څوک

☆☆☆

O

زړۀ دے چې مدام باور په دۀ کوی
ګل دے چې مسکا په نیمه خلۀ کوی

بې زما او ستا نه به بل وائی څۀ
جونې چې مجلس په تنارۀ کوی
ډک دې کړی دا چم ګاونډ د مینې نه
وا خلا ! کۀ څوک چا سره ښۀ کوی
توره دې تېره قلم نه جوړه کړی
توره که دې وخت کښې پښتانۀ کوی
نۀ راسره زر شته دے نۀ زور لرم
ما سره به ښکلی مینه څۀ کوی
نوم دې اخستے مئین په خلۀ نه شی
تاته چې درځی څنګه به زړۀ کوی

کډه د منګل په ندۀ واوړېده
خدائې زده چې پړاو به په کوم غرۀ کوی

☆☆☆

O

ما نه دے لیدلے ژوند ۀ کښې زور
څومره چې دے ستا په مړۀ کاتۀ کښې زور

بېرته به ترلاسه خپلې متې کړی
نن کۀ دے اوبۀ په پښتانۀ کښې زور

مونږ به بیا رڼا له چا نه پور نه کړو
مونږ که ولیدو په نمر خا ۀ کښې زور

وامې چوه سترګو ته ر جۀ مې کړه
ګورمه نن زۀ دې دریابۀ کښې زور

هر ښکلی اسیر کا لې زهیر ئې ګا ې
څومره دے منګلا ! ستا په زړۀ کښې زور

☆☆☆

O

کرکه خوره لکه خپسه ده په زړونو باندې
کرکه ځنګېږی د هر کور په دېوالونو باندې

منم چې تۀ به لولپه کړې ددې خاورې ښکلا
خو دلته هر سړے مئین دے په رنګونو باندې
زه چې غزل لیکمه سوزم د زړي په شان
اورم چې ګټې هم کوي خلک شعرونو باندې
اوس د ګودر خبرې شولې د پېړو خبرې
د نوی وخت ګردونه پرېوتل رسمونو باندې
د وینو وږم ۀ پوهېږمه چې ولې راځی
تا خو نکریزې پو ې کړی دی لاسونو باندې
هغه به نور وی ډکوی چې پرهرونه د بل
مونږ پښتانۀ خو مالګې شپندو په زخمونو باندې

واورې شوې ویلې کلی یوړل سېلابونو رانه
منګ ! اور بیا لګېدلے دے په غرونو باندې

☆☆☆

O

پرېږده چې ګرځم پرهرونو سره
مینه ژوندۍ وی د رنګونو سره

زۀ په فټ د هر یو ښکلی رسم
ما وخت تېر کړے دے ګلونو سره
بیا هغه ړنګ کلی ته نۀ ورځمه
څوک به ولاړ وی دېوالونو سره
د یار نرۍ وروځې تېرۀ لرونه
جرړې د زړۀ رېبی بېخونو سره
زمونږ شمله خو دومره ټیټه نۀ وه
زمونږ سیالی وه اسمانونو سره
یو ځلې بیا ماته دروغ ووایه
رغېږم زۀ ماتو لوظونو سره

اوس هر یو ښکلے دے اسیر په ښار کښې
منګل ئې ګوری ګودرونو سره

☆☆☆

○

بخت خپله پښو ته رالوېدلے دے تپوس مۀ کوه
یار په تپوس زما راغلے دے تپوس مۀ کوه

زۀ به ترڅو ورباندې ځانګمه اخر به شلېږی
د هیلو پړے مې غړلے دے تپوس مۀ کوه
چې په اوبو کښې هم لمبې کوی بڅری کوی
زړۀ مې په داسې اور سېزلے دے تپوس مۀ کوه
په پسرلی کښې د پرهر حال درته څۀ ووایم
خو بس یو ګل راغوړېدلے دے تپوس مۀ کوه
په ځان به سخته تېروې هله به کار وباسې
دلته کښې هر سړے ښاغلےدے تپوس مۀ کوه
زړه مې یو داسې جوارګر دے چې داو نه شي ګټے
زړه مې په هر ښکلي بائیلاِ دے تپوس مۀ کوه

د منګل زړۀ ئې اسیر کړے دے وږمه کښې د ګل
دا پېښور چې څومره ښکلے دے تپوس مۀ کوه

☆☆☆

O

دا زما او ستا حالونه به څوک ړائی
مونږ چې نه و کتابونه به څوک وائی

چې د شونډو اور دې اور په ما بل نۀ کړي
ستا کیږ و ته ملهمونه به څوک وائی

د آدم او د درخو کیسه زمونږ ده
مونږ چې ه وو داستانونه به څوک وائی

چې سپرلے ئې له خند ، نۀ ږ دا کېږی
معشوقو ته ګلابونه به څوک وائی
ماپه ژوند کښې چې لوستونکے پیدا نه کړو
ما نه پس به زما لیکونه بۀ څوک وائی

د منګل غوندې مئین چې اسیر نه کړی
تور اوربل ته زنځیرونه به څوک وائی

☆☆☆

O

ګل ګورم د ګل سره ازغی ګورم
لرې کړه پلۍ چې پسرلی ګورم

پښې د ستمګر په ، وئېدلو دی
نن دې ټول خویونه پښتنی ګورم

غږ ستا د راتلو په کلی خور ، ولو
ځم چرته مېرو کښې سـ لمنی ګورم

تۀ ئې چې انسان دې ځیرې ځیرې کړو
زۀ یم تا کښې خوئ بیا د سړی ګورم

بیا دې زلفو ګېره کړه د مخ سپوږمۍ
بیا تورو و ، ځو کښې ساقي ګورم

بلې چې منګ ! پرې لمبې نۀ کړی
نن به زۀ دا خپله شاعری ګورم

☆☆☆

O

ځوک په کوڅه ځوک په خپل در قتل دے
ده توره شپه که سپین سحر، قتل دے

د چا په زړۀ کښې مینه پاتې نۀ شوه
هم په عاشور هم په اختر قتل دے
ژوند به هم دا سپېره مرګے زېږوی
نن کۀ په سمه کۀ په غر قتل دے
ګل چین په سپینه ورځ ګل وربېلو
د مینې بڼ کښې دغه ستر قتل دے
دلته د امن فرشتې نۀ ګرځی
دلته کۀ لر دے او کۀ بر قتل دے
خدایا ! دې پور نه به خلاصېږو څنګه
د هر یو وخت زمونږ په سر قتل دے

هغه چې تیتو خلقو نه شو لیدے
منګۍ ! هغه اوچت سر قتل دے

☆☆☆

O

غر دے که ګړ ګ دے څومره ښهٔ لګی
ستا د کلی ر ګ دے څومره ښهٔ لګی

دلته یو مئین په ور دیدن اخلی
ایښے ئې ق ګ دے څومره ښهٔ لګی

ماته یادوی سترګې او زلفې ستا
ښګ دے کهٔ لونګ دے څومره ښهٔ لګی

سره لکه سکروټه شه اور پورې کا
تا سره مې ج ګ دے څومره ښهٔ لګی

ستا په څنګ کښې ما رقیب لیدے نهٔ شی
څومره عاجز تنګ دے څومره ښهٔ لګی

څوک ورته اسیر او څوک ، ګل وائی
دلته یو ما ګ دے څومره ښهٔ لګی

☆☆☆

ه

تۀ چې راروان ئې راوربږی پسرلی
ستا د ښکلی مخ نه قربانېږی پسرلی
غلی غلی کېږی راغونډېږی پسرلی
تۀ چې ورته وګورې شرمېږی پسرلی
ولې دې بند کړے دے په مونږ باندې دیدن
ولې دې په مونږ نۀ پېرزو کېږی پسرلی
تۀ چې تکه شنه له خندا پرېږو ې په د وال
ګېر چاپېره خپله د ه ېږی پسرلی
څۀ به شو ګلونه څۀ غوټی دانه وانه
دا چې په حالاتو کښې سوزېږی پسرلی
مونږ کله بخښو د ښکلاګانو قاتا ن
مونږ کله لیدے شو چې قتلېږی پسرلی

دا یوه منګۀ ! اشاره وی د جانان
نۀ خپله رادرومی نۀ تېرېږی پسرلی

☆☆☆

O

تور شوم خو خال دې د جبين نۀ شومه
وينبتۀ مې سپين شولو زۀ سپين نۀ شومه

نۀ سپرلے راغے، نۀ مې تۀ وليدې
په خپلو وينو چې رنګين نۀ شومه
بيداد نه پس اسماء ! داد خو راکړه
چې لېونے په دې زمين نۀ ؛ ومه
په پتنګانو کښې مې ليک شوه نامه
که ستا د غاړې لونګين نۀ شومه
ستا د ښائست د سپرلی نشته ګنا
زۀ داسې بوټے يم چې شين نۀ شومه
د دې فکرى انتشار دې ورځو کښې
زۀ هم بدل شوم خو بې دين نۀ شومه

د نفرتونو په تنور کښې اوسم
منګا ! کاڼے يم چې خوړين نۀ شومه

☆☆☆

O

ستا تصویر چې پکښې پړق وهی غړېږی
دا کاواکې سترګې څنګه به پټېږی

چې شهید په خپلو وینو باندې سرۀ کړه
په دې خاوره به ګلونه راټوکېږی
ولې نۀ وځې زما د زړۀ کنډر نه
ښاپېرۍ خو هدیو کښې نۀ وسېږی
په خازه ئې د منګی کودری کېږده
په اور سوے د چنار لاندې ښخېږی
ستا خورو زلفو کښې شپې ه ۰ا پرې نۀ ښو
مسافر له غریوه ډک درو ی تېرېږی
د زړۀ تړه به دې ویلې شی په خپله
سختو تیږو نه رڼې چینې بهېږی

چې اوربل ئې د مخ نمر پټ کړی منګل!
دې وریځو نه بیا واورې راوریږی

☆☆☆

O

وړی خوارۀ چې کله ځی خوا ۀ ملګری
کاڼ ! که نۀ جدا کېدے د زړۀ ملګری

هره ګرانه به سمېږی ګرانه نۀ ده
که په خوا کښې دې وسېږی ښۀ ملګری
سپنه ورځ ئې جوړ پیرزو راباندې نه وه
چې په توره شپه له ما نه تلۀ ملګري
ځندی کړے سړیتوب دے خلکو داسې
چې معاف نه شؤل هدیرو کښې مړۀ ملګري
دهغو د درنښت هیڅ ، مانت نه وي
سپکوي چې څوک درنه درنه ملګري
د خوشحال په څلی جشن به ی خلق !
که راویښ شول د مودو اودۀ ملګری

اوس د کلو نه هم تلی دی منګل !
لټوې په ښاریو کښې تۀ ملګری

☆☆☆

○

د زړونو ښکار کوی کونترې ګرځی
ښار ته لاړ نۀ شې جادوګرې ګرځی

د ښکلو ځائې یو کوهِ قاف خو نۀ دے
په پېښور کښې هم لښکرې ګرځی

لکه د زرو به دې وریت کړی اور کښې
دلته وړې وړې زرګرې ګرځی

ځوانه ځوانۍ باندې غاوره نۀ شې
زور شی اوبۀ چې زورورې ګرځی
د زړونو چم کښې پسرلي ټوکیږي
د زړونو چم کښې چې سندرې ګرځی

منګ ! خیال کوه اسیر دې نۀ کړی
بیا پسرلے شولو کڈګرې ګرځی

☆☆☆

O

زلفې چې تاؤ واخلی اوربل جوړېږی
مئین چې وسوزی غزل جوړېږی

د چا دپاره ځائې په زمکه نشته
د چا دپاره تاج محل جوړېږی

تاته درځم فاصلې لاندې کړمه
بېرته چې ګرځم ډېر مزل جوړېږی

بې انصافی او مایوسی چې یو کړې
زمونږ د کلی چاپېرچل جوړېږی

چې زمانه ورپورې توقې وګ ی
هغه سړے د قام اتل جوړېږی

منګ ! سوچ په تور پیکی مۀ کوه
دې غر کښې لار په توکل جوړېږی

☆☆☆

O

زۀ چې ستا د سترګو په جامونو باندې واوړېدم
خود به اوځم خود نه خمارونو باندې واوړېدم

مخکښې زمانه ما ګرځوله اوس تاوېږم زۀ
خدائې زده چې دا نن کومو ختونو باندې واوړېدم
ښکلی اوس راووتل چې وخت د لاسه ووتو
تېر عمر کښې سم په قیامتونو باندې واوړېدم
څوک خو به ئې م ! څه تعبیر ورته راوباسی
ده که توره شپه زۀ په خوبونو باندې واوړېدم
ما د ګل له مخه جولۍ ډکه له ازغو نه کړه
را به شی سپرلے که پرهرونو باندې واوړېدم

زۀ منګل اسیر شومه نن بیا ګړګتو زلفو کښې
تور لونګ کَرمه تورو غرونو باندې واوړېدم

☆☆☆

مزدور

دنیا ګل ده هر یو ځائی وږمه وږمه ده
خوشبوئی ستا د خولې چې راخوره ده
تاترې نه دې هم جګه حوصله ده
رڼا کړې په محنت دې توره شپه ده
هر یو ځائی کښې ستا د لوړ همت قصه ده
زۀ دې ستائم زما خلۀ باندې مصرعه ده

چې رنګونه خوروی هغه تصویر ئې
تۀ ښکلا ددې نړۍ د هر تعمیر ئې
فاصلې راغونډوی ژوندے ضمیر ئې
تۀ خواخوږے د غریب او د امیر ئې
ودانی کړې د وطن، د وطن میر ئې
فلسفی غوندې هر یو مقام ته ځیر ئې

د هاړ نمر وی که یخنی د پو او ما وی
ستا همت مخکښې روان په یوه سا وی
توره شپه وی راختلی که سبا وی
ستا وجود د لېونی غوندې لګیا وی
چې تر څو پورې ودانه دا دنیا وی

ستا په متو کښې دې زور بلا بلا وی

رسؤلے دې هر ځائی دے تر کماله
اراده او حوصله دې لازواله
په تش لاس ریښو جامو کښې ئی خوشحاله
د وطن هره کوڅه دې کړه سوکاله
دې جذبې نه دې ځاربرم زما لاله
په خپل غم هیچرته نۀ شولې ملاله

اے مزدو ! زما ورو ! تۀ غنی ئې
چې بخښنه کوې بل ته لوئی سخی ئې
د وطن د اوچو ډاګو رنګینی ئې
کر د ګلو کړې مئین په پسرلی ئې
تۀ مېړۀ ئې تۀ کردار د مېړنی ئې
کۀ بوډا ئې هم په شانې د زلمی ئې

☆☆☆

پښتنه پېغله

څومره ساده ده ده داره جینۍ
ژوندے تصویر د صداقت دے لکه
لوپټه توره ئې تاؤ کړې له سر
زنځ ی خت ئې شرافت دے لکه
چې ورته ګورې مینه مینه ښکاری
خدائیګو ریښتونے محبت دے لکه

د پته ډکه له وفا ډکه ده
پښتنه پېغله له حیا ډکه ده

نۀ ئې زونه اداګانې شته دی
نه ډول سنګار ته ضرورت لري
دبدخشان لال لوګے شه و ځنې
داغمے داسې ښافت لري
مثال ئې ښار کښې په نظر نه راځي
غرئیز حسن دفطرت لري

د پته ډکه له وفا ډکه ده
پښتنه پېغله له حیا ډکه ده

د پښتنو څومره ښائسته جامه ده
چې پرې درنه دا پښتنه پېغله ده
ـه سادګۍ نه ئې لوګے شه جونې
دا ئې ښائست دے چې ساده پېغله ده
کۀ اداګانې کۀ نخرې ئې نۀ زده
دنګه غړۍ لرې ښائسته پېغله ده

د پته ډکه له وفا ډکه ده
پښتنه پېغله له حیا ډکه ده

غرونو رغونو کښې ګرځېږی مدام
دا غرځنۍ لیلیٰ څاروی څروی
خړ غوندې سپے ورسره شام و سحر
ببرو غرونو کښې خپل وخت تېروی
کوم پښتانۀ باندې به اوړی دغه
چې تور وربل د پښتنې خوروی

د پته ډکه له وفا ډکه ده
پښتنه پېغله له حیا ډکه ده

په سر ګېډے ئې د لرګو ایښے دے
په دنګو غرو کښې راروانه جینۍ
کوی څوکۍ تل د غواګانو خپله
په کار کښې بوخته سرګردانه جینۍ
زیږ ماز یګر دے لکه کور ته راځی
منګ ! څومره ده ستومانه جینۍ

د پته ډکه له وفا ډکه ده
پښتنه پېغله له حیا ډکه ده

☆☆☆

د قسمت لیکونه

ما وې کۀ زړۀ رانه چا وویستلو
تا چې رقیب نه اخستل ګلونه
څ شکایت درنه مئین نۀ کوی
څوک ورانوے شی د قسمت لیکونه

.....

کافره ژبه

هسې دعوٰی کؤمه
په یوه ژبه باندې
او دا نارې وهمه
ډېره زړه ژبه ده
ډېره مړه ژبه ده
خو چې څۀ لیک وی پکښې
نو خاطر دروند شی زما
په خلۀ مې قلپ ولګی
ګونګ شمه ونخښلمه
زما د لیک لوست ژبه
زما د خاورې نۀ ده
زۀ خپلې مور ته هم چې
مخاطب کېږم کله
نو بله ژبه لیکم
زمانې واوړېدلې
دنیا بدله شوله
چې وه اغیار غندلې
هغه بدنامه ژبه

چې وه دشمن کافره
هغه کافره ژبه
پردو ونه بخښله
خپلو په کار نه کړله

☆☆☆

یو شعر

منګلا ! سترګو کښې دې اوښکې راوړه
ما د سړی ژړا لیدلې نۀ ده

خپلې خاورې ته

ستا د درو خبرې چېرم یادؤم سیندونه
ماته یو شان ماته وقار ئې د ژوندون بخښلے
دا ستا د دنګو دنګو غرو قصه په جار کؤمه
ماته ئې عکس د خودداری په سر د دار ښودلے
ستا ورشوګانې تکې شنې دی او که سوې مېرې
زۀ ئې په هر موسم د مینې په عظمت نمانځلے

☆☆☆

زۀ د بلبل غوندې چغار سحر ماښام کؤمه
تا جوړ د ګل په خوشبوئی کښې دی لمبلې خاورې
زۀ چې خبره د جانان کؤم چنار یادؤم
زما د مینې په ورشو راغوړېدلې خاورې
یوه لمحه هم د فکرونو نه مې وتے نۀ ئې
زما وجود کښې لکه وینه ګرځېدلې خاورې

☆☆☆

وطن ! ستا لارو کوڅو کښې چې تیارې خورې وی
زۀ به په خپل ور پرقېدلي چراغونه څۀ کړم
د ستا سرتېری ستا په پت کښې چې را پا نۀ څوی
په اور دې وسوزی ایرې دې شی شعرونه څۀ کړم
ستا خپلواکی ستا خوشحالی چې په ځائی ونۀ ساتی

پکار مې نۀ دی کۀ وی ډېر داسې سرونه څۀ کړم

☆☆☆

تا ماته فن په اخلاص راکړو تا هنر راکړو
زۀ ستا شاعر یم تا دپاره شاعری کؤمه
ستا تصور زما په ذهن کښې رنګونه سپړی
حالات که هر څۀ وی خبره د سپرلی کؤمه
ستا ازادۍ کښې خو زما ټوله خودی پرته ده
د سیالو سیال یمه هر چا سره سیالی کؤمه

☆☆☆

زۀ امن غواړ ه دنیا کښې وروروڼو غواړمه
تاته چې پېښه ده ما دې نه هم بیا ښ ګ کړے دے
د هر غلیم وینه مې څښلې ده داړلے مې دے
هره کوڅه، هره دره باندې مې ښ ګ کړے دے
تورې ته لاس چې کړم بیا ما ټوله دنیا پېژنی
ما هره سخته کښې وطن ! په تا ګ کړے دے

☆☆☆

واوره په غرۀ

واوره په غره زۀ په جانان باندې وربږمه
د زړۀ په څوکې راخوربږمه
سپینه کوتره یم چې والوزم پړقېږمه
د زړۀ په څوکې راخوربږمه

د ګل په خوا کښې هسکه غاړه
خدائی زده چې چاته یم ولاړه

پښې مې د کور په پلؤ نۀ ځی نۀ پوهېږمه
د زړۀ په څوکې راخوربږمه

ګوره چې خیال زما ونۀ کړې
په لېونی باندې به څۀ کړې

تۀ ښاریو زۀ تورو غرونو کښې اوسېږمه
د زړۀ په څوکې راخوربږمه

غزل غزل یمه نغمه یم
زۀ د منګل د خُلې تپه یم

ما په مصرو کښې ځایوی ورته یادېږمه
د زړۀ په څوکې راخورېږمه

☆☆☆

ګل !

ګله چې چرته ئې ګل ګل وی فضا
د تور وربل سورلی دې نور ښکلے کړی
بس د چا سترګو کښې راونۀ خېژی

☆☆☆

○

وایمه رښتیا، ډېره ظالمه ده
دا سکنۍ ملا، ډېره ظالمه ده

ژوند ئې ټول په ما پسې لیکلے ؤ
نۀ شوله زما، ډېره ظالمه ده
ولې یو رقیب نه شکایت وکړم
دا ټوله دنیا ډېره ظالمه ده
خدائی دې د بېلتون سارۀ نه وساته
یا ! دا سزا ډېره ظالمه ده
زۀ ئې د هر ګل په اور سېزلے یم
دا څه هوا ډېره ظالمه ده

زلفو کښې اسیر ئې چې منګل نۀ کړو
ښکلې دلربا ډېره ظالمه ده

☆☆☆

O

چې جدا رانه جانان شه ورک ه ما ځنې جهان شه
ورک له ما ځنې جهان شه چې جدا رانه جانان شه

زما حال باندې حېران شه چا چې بد حال زما ولید
چا چې بد حال زما ولید زما حال باندې حېران شه

خدائیګو هغه بوډا ځوان شه چې د ستا نظر کښې راغے
چې د ستا نظر کښې راغے خدائیګو هغه بوډا ځوان شه

د پسهٔ غو ندې قربان شه څوک چې تل ستا د خندا ؤ
څوک چې تل ستا د خندا ؤ د پسه غوندې قربان شه

د هغه څیرې ګرېوان شه چا چې څیرې منګل ولید
چا چې څیرې منګل ولید د هغهٔ څیرې ګرېوان شه

☆☆☆

O

لوپټه مخ نه ئې ښوئې ه څومره ښائسته لګېده
سپوږمۍ وریځ نه راو ه څومره ښائسته لګېده

ا په ژړا ژړا چې دوه سترګې چینې کړې ورته
لکه چنار وغوړېده څومره ښائسته لګېده
چا څنې لنډې، چا اوږدې، د چا لستونې نه وو
د رنګ و بو قافله له څومره ښائسته لګېده
ما چې له غمه ډک شین زړۀ ورته راوسپړلو
شوه د خندا نه تکه شنه څومره ښائسته لګېده

هغه بدرنګ هسې په ځ ن باندې قیامت راوستو
چې شوه مسکۍ مې په نامه څومره ښائسته لګېده
ښکلی بلا وو لکه ستوری شمار ئې نه کېدلو
هغه سپوږمۍ وه ځلې ه څومره ښائسته لګېده

ما چې د قسطه ورته اووې منګل ځی له کلی
لکه نېنه وترقې ه څومره ښائسته لګېده

☆☆☆

O

تا ایښی دی چې نن د زلفو ولونو ښې ګلونه
زۀ ګورم څومره خوند کوی په غرونو کښې ګلونه

اوس مینه هم رسمی ده تکلف نه ټوله ډکه
اوس نۀ نیسی هیڅ ځائی چرته په زړونو کښې ګلونه
که جونو لوپټې له سره کوزې کړې اوږو ته
زلمی هم نه ټومبی په دستارونو کښې ګلونه

نۀ زۀ وررسېدے شم نۀ هغوی راټیټېدے شی
بس وینو همېشه مونږ په خوبونو کښې ګلونه
اے وخ ! لږ ئې راوله هغه سپرلے دې څه کړو
چې مونږ به کېښودل په کتابونو کښې ګلونه
چې ستا په خوا کښې ناست وی که وی ښکلے رقیب ښکاری
خوند نۀ کوی د سترګو په جامونو کښې ګلونه

منګ ! چې مې ګوتې ددې وخت په نبض کېښوې
سینې د ازغو ډکې وی لاسونو کښې ګلونه

☆☆☆

O

ستا په راتلو غږ ې د زړۀ ورکېږی
سپوږمۍ چې وخېژی تیاره ورکېږی

ما به کړې مړ مینه وژلے نۀ شې
ګل ترمې ترمې شی بوئی نۀ ورکېږی
تانه خالونه کۀ وخت وشوکؤل
زما داغونه به په څۀ ورکېږی
تۀ چې رانه غلې زۀ اودۀ نه شومه
غم خو د یار په زنګانه ورکېږی

چرته په ،ختـه چرته وران په ختـه
مانه خپل قام په دېوالۀ ورکېږی
بیا هم ضمیر مې بیخی بد نۀ غواړی
کۀ نېکی ځائې نۀ نیسی ښه ورکېږی

حېران یم دلته څنګه وخت تېروی
منګ ! ښار کښې پښتانۀ ورکېږی

☆☆☆

O

راوړم تاته رنګونه د لمبو په لوری ځمه
ګلونه چې ستا خوښ دی د ازغو په لوری ځمه

پښتون یمه خبرې د غېرت راسره ښائی
ما مۀ رانیسئ خلق! د پښتو په لوری ځمه
د زلفو په رسو دې ځان رخسار ته رسؤمه
رڼا کۀ مې نصیب شی د تیارو په لوری ځمه
که کړے اتفاق هر یو پښتون تل په نفاق دے
زۀ بیا ورځم حجرو ته د جرګو په لوری ځمه

چې جوړ کړمه د ژوند نه یو رنګین د بوډۍ ټال
ښائست راټولومه د سپرلو په لوری ځمه
تربور ته غاړه وځم د غلیم سر ماتؤ ه
نۀ خپل پردی کؤم نۀ د پردو په وری ځمه

شېرشاه دے که خوشحال که ابدالی اسیر منګل!
ډیوې زما د قام دی د ډیوو په لوری ځمه

☆☆☆

ه

تا چې کله زۀ د زړۀ نه وویستم
هر سړی د خپل کالۀ نه وویستم

کلے په یو حال کښې به پرې نۀ ږدمه
کلی کۀ ژوندی او مړۀ نه وویستم
ولې دې نن مرګ ه ما پېرزو نۀ شه
ولې دې نن زۀ ښ[1] نه وویستم
ما وې تۀ به ما ځائې کړې د زړۀ کور کښې
تا لکه د خس لېمۀ نه وویستم
خپله شوله ږ رته منصوری چغه
تا چې کله ۀ د ۀ نه وویستم

اوس خو مې منګله ښار نه زړۀ نۀ شی
ښکلی لکه غرۀ راغه نه وویستم

☆☆☆

---

[1] د ښمن

O

ستا د زلفو دکمڅو سرونه نیسم
عشق پښتون کړمه د غرو سرونه نیسم

لکه ګل به خپله لاس ته زما راشی
د تېرو تېرو اغزو سرونه نیسم
د خورو زلفو د لاندې دوه سکروټې
یخو شپو کښې د لړو سرونه نیسم
دا چې خپله ناپوهی مې په سر واخلی
لېونے شم د مورچو سرونه نیسم

بیا سپرلے به ښکلی غرونو نۀ راکوز کړی
بیا به زۀ د ګلدرو سرونه نیسم
زۀ د برندو سترګو جنګ نه نۀ وېرېږم
زۀ د ورانو جزیرو سرونه نیسم

ښکلی څوک ایسارؤلے شی منګله
لېونے یم د سپرلو سرونه ا سم

☆☆☆

○

ستا راتلۀ داسې په زړونو باندې لګی
لکه ابشمه په ګلونو باندې لګی

دا پستې پستې ټکور ټکور خبرې
ملهمونه پرهرونو باندې لګی
د خپل کلی ناپوهې مې زړۀ تربنـ[1] کړی
چې زبړے په پېغلو جونو باندې لګی
دا سړے ازار د مینې دے وهلے
چې ټول وخت ئې نفرتونو باندې لګی
د ته څوک ورنه غمې جوړوے نه شی
دلته کانې په سرونو باندې لګی
عاشـ ان د مرګ نه پس هم سرګردان وی
میلې ځکه مزارونو باندې لګی

پشکال دے کډه وتړه منګل!
یخ شمال په جګو غرونو باندې لګی

☆☆☆

---

[1] - خپه، پریشان

O

ژوندے کردار د پښتنو ښکلؤم
لاسونه پښې د مېړنو ښکلؤم

د ستر خوشحال د تورې ، رنګ په مینه
د قلم توره په لېمو ښکلؤم
د روغو خلقو زړونه ولې غورځی
زۀ چې شمله د لېونو ښکلؤم

چې ځان کړی خاورې د اولس دپاره
زۀ قدمونه د هغو ښکلؤم
چې د جانان نۀ ئې لوګے کړلو ځان
خړې ایرې د سپیلنو ښکلؤم
خلقه زما په شونډو وئې لیکئ
چې ځنکدن کښې هم پښتو ښکلؤم

منۀ . ! خ ر دے کۀ اسیر شمه زۀ
ابدارې تورې د زلمو ښکلؤم

☆☆☆

○

ما په ژوندونی کړلو مړے وجود
ګنی خدائې سم دم وۀ راکړے وجود

دا ستا د چم وړو ته جوړ شوم ایله
کور ته دې راغلم ستړے ستړے وجود

درد و غم شته دے خو زۀ نۀ پوهېږم
لکه چې چا وی رانه وړے وجود

چې کړی یوه ه مودو ړنګه خونه
داسې به څوک وی مور راوړے وجود

دنیا کښې هر سړی پوره کړلو ځان
د منګل نن هم دے نیمګړے وجود

☆☆☆

O

کلی کښې جوړه ګنګوسه غوندې ده
راځه چې ورشو څۀ قیصه غوندې ده

چې تاته ګورم لکه ځان چې ګورم
لا ! مخ دې آئینه غوندې ده
ماته احساس د خپل وجود ۀ کېږی
دا توره شپه څومره درنه غوندې ده
لکه څوک بل منصور په دار وختو
نن یوه لویه هنګامه غوندې ده

ستا د قدم خاورې زۀ نولم په سر
خلقو ته جوړه تماشه غوندې ده
خدائې زده څه دی د دې اسمان په زړۀ کښې
بیا چې د چا وینه توده غوندې ده

منګ ! چا چې اسیر کړے یمه
هغه ښځی ډېره ساده غوندې ده

☆☆☆

O

دا فضا خوږه چې له ګبینه ده
دلته کښې ښائست دے دلته مینه ده

را دې شی سپرلے که زیاتوی قدر
دا د یار کوڅه ده ګل ورینه ده
لا د تورو غرو یادونه تت نۀ دی
لا خو مې په خلُۀ خبره سپینه ده
مالګه د زیارت ئې رانه هېره کړه
ستا یوه بوسه څ مره نمکینه ده
کاش چې زۀ ئې یوسمه زړۀ ستړیو ته
مینه خو د ستړی ژوند امینه ده
شپې چې د لونګو بوئی شورو کړلو
ښکاری راروانه لونګینه ده

مونږ کړله منګ ! بدصورته نن
ګنی دا دنیا ډېره رنګینه ده

☆☆☆

O

د مودې پس غږ د جانان وشولو
ختمه سوکړه شوله باران وشولو

ما پۀ انسان کښې چې شیطان ولیدو
رحم مې خدے ګو په شیطان وشولو

ضروری نۀ ده چې سبا به هم وی
نن د چا نوم کۀ په جهان وشولو

خاورې دی ډېر ستا غوندې سپین مخونه
وایه د کوم ښکلی ارمان وشولو

خدایه په دې تور باندې ونیسو څوک
نن قتل عام چې د افغان وشولو

دعوه د خدائے مینه بتانو سره
منګله زیان دې د ایمان وشولو

☆☆☆

O

مخ ئې ډيوې غوندې چې بل وی ليونے کړی سړے
ښکلے پردے وی او کۀ خپل وی ليونے کړی سړے

وربانديې سر مې نه وی ايښے چې له خوده اوځم
لکه افيم د يار څنګل وی ليونے کړی سړے
افسوس خو دادے د منزل لا ے معلوم نکړو چا
چې بې ر بره کوم مزل وی ليونے کړی سړے
خدايه ته مونږه نور له داسې ستمګر وساتې
چې نه پۀ ځان او نه پۀ بل وی ليونے کړی سړے
دغه وګړے کوی خپله، د بل چا نه منی
د پېښور که د کابل وی ليونے کړی سړے
چې څوک يې اوری بې اختياره له خولې داد ئې وځی
ستا په نامې کوم يو غزل وی ليونے کړی سړے

منګله ته که هر پېچومی زورولے ئې ډېر
خو ګل ګوتې چې تور وربل وی ليونے کړی سړے

☆☆☆

○

پورې کوی اور په جهان ښکلی
چې کړی لوګی لوګی زلفان ښکلی

د چا په یو نظر هر څۀ دوړه کړی
چاته وروبخښې ایمان ښکلی

څنګه به اوځی پېچ و خم له زلفو
څنګه سمېږی به دا وران ، کلی

ولې به نۀ تېرؤم ګران وختونه
چې دی په ما باندې ډېر ګران ښکلی

پوئی نۀ یم تۀ ګټه د چانه کوې
پوئی یم چې نۀ منی تاوان ښکلی

اوس ئې منګ ! ستا تپوس کولو
اوس په دې ر و ، روان ښکلی

☆☆☆

○

زلفې چې تۀ نن لنډوې زۀ به خوبونه وینم
دا شپې که ډېرې کړې وړې زۀ به خوبونه وینم

راروان خلق به ئې خامخا تعبیر لټوی
تۀ زما کور چې ړنګوې زۀ به خوبونه وینم
چې د ځوانۍ سپرلۍ ئې غوټه جبین ګل کړے وی
زۀ کۀ وباړمه توبې زۀ به خوبونه وینم
تۀ چې رانه شې زما طمع نوره هم سېوا شی
تۀ چې لوظونه ماتوې زۀ به خوبونه وینم
رڼا ته راشه مینه و ړه ما خپل سیال ومنه
په ځان تیاره چې راولې زۀ به خوبونه وینم

منګلا ! دې ستړی ماحول کښې ستړے ستړے پرېوځم
تۀ چې ما نۀ راویښوې زۀ به خوبونه وینم

☆☆☆

د مدینې په لور

ګوری کله بیا د زمانې په لور
ځی چې کوم سړے د مدینې په لور

خد ې نه پس هم ستا نامه په خُلۀ مې وی
مخ چې کؤم کله د کعبې په لور

ماته د تاوان خبرې مۀ کوه
مینه کښې څوک ګوری د فائدې په لور

ستا د ښکلی مخ وړانګه مې زړۀ کښې وی
نېغ ځکه ورځمه د تیارې په لور

ستا د خپلولۍ خوارۀ چې بیامومی
بېرته نۀ ستنېږی د رشتې په لور

شی چې تل عمری ستا د دربار اسیر
وغواړه نګل د شنې روضې په لور

☆☆☆

اے ښکلي سپوږمۍ

★★★★★★★★★

اے ښکلي سپوږمۍ ته چاته خاندې لېونۍ
واچوه زما تشو غوږونو کښې والۍ

سین چې په مخ ځی د ستا تصویر پکښې ځلېږی
ګوری تاته بره په قلار قلار تېرېږی

شنه پیالۍ د مئیو ته ئې غاړه کښې اوږۍ
اے ښکلي سپوږمۍ

هسې ماته تا کوې مئینه ئې په بل تۀ
تېره شې په ما بیا چرته پرېوزې په محل تۀ

تۀ ئې تکه سپینه دا زما توره کېږدۍ
اے ښکلي سپوږمۍ

ستا لارې ژورې لکه زمکه هوارېږی
اوس ستا عاشقان به ستا په غېږه کښې وسېږی

خدائی خبر چې چاته به بیا ګورې په بلې
اے ښکلې سپوږمۍ

چیرې مې جامې دی یوه غوا بله چیلۍ ده
ملا مې د دې چورلټه ماته له خوارۍ ده

راکۀ شې تۀ ماته کړم به زړۀ درته ډالۍ
اے ښکلے سپوږمۍ

څوک چې وی لوستونکے تۀ هغۀ ته نزدې کېږې
مونږ یو ټکے زده نۀ کړو تۀ مونږ نه لرې کېږې

ژاړی په تقدیر د تورو غرو یوه جینۍ
اے ښکلې سپوږمۍ اے ښکلې سپوږمۍ

☆☆☆

ستر حمزه

:::::::

باز نه هم فضا کښې پاتې کېږی څۀ
تلے دے د فن په هر ډګر حمزه

لاړلو جنت ته د پښتو سره
وېره چې ونۀ کړه له سقر حمزه

فن سره انصاف منګله ونۀ شۀ
ما کړلو بیان ډېر مـ ـتصر حمزه

☆☆☆

دوه شعرونه

زما قام شته خو زما ژبه نشته
ورک دے هغه چې دچا ژبه نشته

دلته پخوا اعتماد سر خوړلے
دلته د یو رهنما ژبه نشته

☆☆☆

د باګرام طوطی

په شونډو ئې مسکا وه ژوند ئې ټول لوګے لوګے وۀ
لمبه لمبه ماحول کښې سوزېدلو سپېلنے وۀ

دیدن به ئې چې کوم سړی کولو د نزدې نه
هغه لکه اوبۀ د ژوندانۀ څښلې چینې نه

دنیا ورسره نۀ وه لاس ئې تش جېب ئې خالی وۀ
دنیا ورته راتلله زړۀ او ذهن ئې غنی وۀ

سپائی وۀ په رښتیا د باچاخان د قافلې
لیدلې ئې دې لاره کښې بلا تودې سړې

وه قام سره ئې مینه هم ئې کړے په قام ښ ګ وۀ
خو خوږے د مظلوم وۀ د ظالم سره په جګ وۀ

د هر یو مصیبت هر یو تکلیف ځنې خبر وۀ
د جېل په کوټنۍ کښې بندی کړے ستمګر وۀ

ښائست باندې سم ورک وۀ لېونے د پسرلی وۀ
مئین وۀ په رنګونو د ګلونو شېدائی وۀ

خوشحال ئې د زړۀ سر وۀ د رحمان د در ګدا وۀ
کامل ئې برکت وۀ ستر حمزه ئې هم اشنا وۀ

ملګرے د اجمل وۀ د غنی د سترګو تور وۀ
صابر[1] ته هم ډېر ګران وۀ د تقویم په زړۀ راخور وۀ

تحقیق او په تنقید کښې نوې لارې ئې پېدا کړې
تیارې ددغه شپې ئې په دلیل باندې رڼا کړې

اولس ته ئې ورکړے دے یو ښکلے سباوون"
مایوسه مړاؤ زړونو ته چل ښائی د ژ ندون

چې نۀ شی د پښتو افسانه پاتې د پېرزو نه
ګجر " ئې ورله ورکړلې د خپلو تجربو نه

---

[1] ایوب صابر

پرواه ئې نۀ وه هيڅ کۀ ژوند ئې ډک وۀ له عذابه
دريابِ " ئې مونږ ته پرېښودو پښتو ئې کړه سېرابه

ماهر د ډېرو ژبو وۀ د ټکو خزانه وه
مرګی چې څنګه يوړو سړے نۀ وۀ زمانه وه

په ورو رو غږېدو لکه نوستلې ئې شکرې
طوطی وۀ د باګرام مونږ ته وئيلې ئې سندرې

منګ ! قلندر وۀ د مومندو هسکه غاړه
کرلی ئې ګلونه د ادب په هره شاړه

☆☆☆

محمد دین مقید

کـــــــره دې کُرمـــــــه ســـــــندریزه
تـــــۀ د ټکـــــو جـــــادوګر ئـــــې
د ټـــــل زمکـــــه پـــــه تـــــا ویـــــاړی
مینـــــه نـــــاک ئـــــې نغمـــــه ګـــــر ئـــــې

قـــــافلې بـــــه درا ســـــې وی
تـــــۀ یـــــو پـــــړق د ارتقـــــا ئـــــې
د وهمونـــــو تـــــوره شـــــپه کښـــــې
یـــــو بڅـــــرے د رڼـــــا ئـــــې

ســـــپینې ســـــپینې مـــــدام وائـــــې
درنـــــه تـــــاؤ کـــــۀ تـــــور منګـــــور دے
ســـــتا وانـــــا نرمـــــه مهینـــــه
کـــــۀ پـــــه غرونـــــو کښـــــې دې کـــــور دے

ســـــتا پـــــه خـــــوا کښـــــې خـــــو فـــــن نشـــــته
پېښـــــور کـــــواټ دی لـــــرې
وایـــــه چرتـــــه نـــــه دې راوړې

دا خـــــوږې خـــــوږې ســـــندرې

د ګـــل شـــونډې دی ســـتا خوښـــې
پـــه ازغـــو کښـــې دې مـــزل دے
مقيـــــد د خپـــــل صـــــنم ئـــــې
ډک لـــــه ســـــوزه دې غـــــزل دے

☆☆☆

يو شعر

ستا د سترګو تور که نۀ شوم پروا نشته
ستا د کلی په يو وران کور کښې وسېږم

انځورګر

ئې کلک مسلمان خو مصرې ټولې دی کافرې ستا
بائیلې به ایمان چې لولی څوک دغه منترې ستا
خلق په تا ګړۀ دی خوښوی خلق سندرې ستا
دنګه دې غړی ده یاره مستې دی خبرې ستا

زۀ خو یو شاعر یم شاعرانو سره خوښ یمه
ژوند مې د ما ګ دے ملنګانو سره خوښ یمه

تۀ داسې حاکم ئې چې په ټکو حکومت کوې
نوې معنې راوړې د زړو نه بغاوت کوې
للمو للمو زړونو باندې کر د محبت کوې
فکر دې زرخیز دے څومره خیال د روایت کوې

نخښه د پښتون د ثقافت ئې په تا ویاړمه
هر وخت خنده رویه دې د خپل الله نه غواړمه

باد د سردرو ئې حد نه زیاته خودسری کوې
کچ کړې ټول جهان د خ ل نیلی باندې سورلی کوې
لاس کښې دې قلم دے د فطرت ترجمانی کوې

څومره ښکلے کاري چې د ښکۍ و عکاسی کوې

شولې مشهور په پښتونخوا کښې نغمه ګر اشنا
وینه د زړګی چې څڅوی ئې انځورګر اشنا

ډېر څۀ دې زده کړی دی د مینې کتابونو نه
ستا سوی داغونه عبارت دی د خالونو نه
وړانګې وړانګې ژوند دې راغونډ کړے تورتمونو نه
بوئی د خپلې خاورې دې اخستے د لمونو نه

سوز و ګداز غاړه غړی وینم ستا شعرونو کښې
رنګ دې غزلونو کښې دے خوند دې په نظمونو کښې

تا چې د انسان په محبت کښې رنګ تحریر کړلو
ځان ته رانژدې دې هم امیر او هم فقیر کړلو
خوښ کړې پښتنو ځان دې په لږ عمر کښې پیر کړلو
دا دې لوئی کمال دے چې منګل دې هم امیر کړلو

ماته دې معلوم دی غورزنګو " اباسین ئې تۀ
مخ دې هسې سپین نۀ دے په زړۀ باندې هم سپین ئې تۀ

☆☆☆

انسان

په دنیا کښې هنګامې دی ګرمې تا کړې قصې دی
کله حق کله باطل شی عجیبه دې معاملې دی
رود د وینو راروان دے په مرۍ چې ستا چاړې دی
ګوره زمکه ئې کا ګرمه توئی ستا وینې تودې دی
اے انسانه پرتې تاته دي
حادثې دی حادثې دي

اول جوړه تاته توره چې په تا ئې کا مور بوره
بیا ایجاد درته ټوپک شۀ زندګی دې کړه رنځوره
ورپسې ګوره جوړ بم شۀ وایې ! تۀ څومره مجبوره
توپه، ټینک دے درته داسې لکه غاښ ته وی امبوره
ستا په وینو تکې سرې دی کۀ کوڅې دی کۀ مېرې دی
اے انسانه پرتې تاته دي
حادثې دی حادثې دي

کله زوړند ئې کمر نه کله لاندې ئې موټر نه
اندامونه دی ټوټی دی هیڅ خبر نۀ ئې د سر نه

اور اوبۀ دې دشمنان دی ساه دې وباسی ځیګر نه
نور به څۀ څۀ په تا کېږی لا خو پاتې ئې محشر نه
کله مات دې وی هډوکی مشینری په تا سورې دی
اے انسانه پرتې تاته دي
حادثې ی حادثې دي

کله سر ښکاره کړې کور کښې
کله زباد شې کله ورک شې
په جامه چې د عاشق شې
په جامه چې د شیطان شې
اخر کله به ورکېږې

کله سر پټ کړې په ګور کښې
اموخته ئې شر و شور کښې
سلامت اوسې په اور کښې
راشې کبر او په زور کښې
[illegible] رې زمانې دی

اے انسانه پرتې تاته دي
حادثې دی حادثې دي

☆☆☆

د تاریخ پاڼه

د جدید دور هوټل دے ممبئ ده
د مستانو اوازونه دی سم شور دے
مهاراج ورکوی حکم یو بېرا ته
هغه پوئی نۀ شی په هیڅ حالت ئې نور دے

.....

د اتیا کالو بوډا ډېر په ادب کښې
ورته خواست وکړی چې بیا راته ووایه
زۀ غوږونو باندې کوڼ یمه بې شانه
فرمائش دې ښۀ صفا راته ووایه

.....

مشرقی اداب خوند ورکړی لکپتی ته
سوچ کوی چې دلته دغه بابا څوک دے؟
خپل نوکر نه تپوس وکړی په دې لړ کښې
د دې عصر مخالف دا کاکا څوک دے؟

.....

د نوکر فکر جذباتو کښې لاهو وی
وائی ډېر زیات بدمزاجه دا انسان دے
ځان د هیچا نه کم نۀ ګڼی هیچرې
په خپل خیال کښې شهنشاه د هندوستان دے

.....

دا خبرې تسلۍ باندې چې واورى
دلچسپى د بادار نوره شى هم زياته
اخر راولى سپين ږيرے ورته وائى
د ژوندون قصه دى زر زر کوه ،اته

.....

بابا وائى زۀ د هغې وينځې زوئى يم
چې نظر نه د باچا وه غورزېدلې
کله جنګ د ازادۍ چې ونخښتلو
د دهلى نه وه په تېښته راوتلې

.....

زۀ ايله په عمر وم د لسو کالو
چې مونږ ګېر کړلو سپاهيانو د ،ګ
زما مور چې ورته تېر د غم داستان کړۀ
رحم اوشولو په نسل د ،ګ

.....

م ر بى بى چې مې وفات شوله دهلى کښې
د هغې نه پس زۀ د لته يم راغلے
تيمورى وينه مې زغلى په وجود کښې
اوشو څۀ؟ کۀ وخت يم زړۀ باندې داغلے

☆☆☆

قصه ختمه شوه

یو لېونے ؤ ګرېوان څیرې ولاړ
په وچو شونډو د چنار په خوا کښې
په بې قرار زړۀ بې قرارو سترګو
څوک ئې څارلو د پورېمۍ رڼا کښې

لاندې چینه به ئې چې ولیدله
بیا به ئې ستوری په اسمان وشمېرل
کله به کښېناست کله پابه څېدو
خدائی زده چې څۀ ئې په زګې تېرېدل

شپه چې د نیمې نه وروخوئېده
سحر د بر کنډۤ نه تـ" وکړله
بانګیانو ووئیل بانګونه په زور
مئین د کور د تلو تابیا وکړله

تلو تلو کښې نېغ شولو د چا په ښکالو
لکه یو لر بټېر[1] چې زړۀ ومومی
دومره خوشحال شو د جانان په لیدو

---

[1] بګیله مرز

لکه د هاړ تږے اوبۀ ومومی

چې په تندی ئې شونډې کېښودلې
وې ئې دا ستا په طمع شپه ختمه شوه
خدائی خبر حُسن ثۀ ځواب کښې وئیل
ناڅاپه ډز وشو قصه ختمه شوه

☆☆☆

یو شعر

چـــې دې زۀ د یکـــه زار غونـــدې کـــړم پورتـــه
زمـــا زړۀ تـــه د ټپـــې پـــه شـــانې راشـــه

.....

د یو پښتون په مرګ

د تخت سه جُخته تخته پرته وی
د سردار سر په سر د دار ځانګی
خلقه په مرګ ئې ساندې نۀ وایمه
په تار د زلفو زما یار ځانګی

د رومان ساغر په مرګ

په صابر پسې ساغر م کډه بار کړه
په کواټ کښې اوس څۀ پاتې د مزې دی
د مرګی کال ئې کۀ تۀ غواړې منګل!
په تخته د: " د اشنا څیرې جامې دی

۴۰۵ ۴ ۱۴۱۹هـ

☆☆☆

پرون او نن

نۀ د سپرلو پروا وه
نۀ د رنګونو فکر
مستۍ چورلک خوړلو
ښکلا د کور وینځه وه
وخت کته کړے خر ؤ
تللو زمونږ په خ ښه
چا خوزؤلے نۀ شو
وو لکه غرونه ولاړ
څۀ بې نیازی وه خدایه
څۀ خودداری وه خدایه
اوس مونږ ښکلا پسې مرو
اوس مونږ سپرلی لټوو
اوس مونږ رنګونه مرو
خو ښائست نۀ راګرځی
اوس چې زۀ فکر اوکړم

نو په دې ورسمه
هغه جوړ زۀ زلمے وم
هغه جوړ تۀ پېغله وې

☆☆☆

زلمی وبوی
ټیک ده مئین ئې صبرېدلے نۀ شې
خو پشکال کښې لږ په خیال ګرځه
کُرمه چې خړه شی زلمی ډوبوی

.....

سندره

مازدیګرے مې د ټل خوښ دے
لکه مایان ښکلی د کُرمې په لور ځینه

د ټل د کُرمې مزه لاړه
نۀ کېږدۍ شته نۀ د ګدګرو کاروانونه

☆☆☆

کُرمـــه ســـړه ده پکښـــې لګـــی یـــخ بادونـــه
راځه یاره چې ځونه
رڼـــې چینـــې دی ګېرچـــاپېره چنارونـــه
راځه یاره چې ځونه

یو بل ته حال به د زړۀ تېر کړو
شو به مسکی هر څۀ به هېر کړو

د ســـین پـــه غـــاړه بـــه تـــۀ لـــولې کتابونـــه
راځه یاره چې ځونه

جونه شی تولې زانې زانې
چې غونډوی کله ممانې

نمـــر غرغـــره وی لـــه ګـــودر خپـــژی ګردونـــه
راځه یاره چې ځونه

منګ ! تا دی څۀ موندلی
چې تپوس نۀ کوې د کلی

زمـــا یـــادېږی د ننبـــتروا لـــوړ ســـرونه
راځه یاره چې ځونه

☆☆☆

بې وسې

ما د خپل زړهٔ په کور کښې
ما د خپل ذهن په سکرين
ډېر تصويرونه جوړ کړل
ډېر عجيبه مخونه
څهٔ مې واړهٔ پرېښودل
څهٔ مې بې شانه غټ کړل
چاته مې رنګ ورکړلو
څهٔ مې پيکه پرېښودل
خو نه رزهٔ دغه کېنوس
قابو کؤلے نهٔ شم
ټول تصويرونه رانه
خوارهٔ وارهٔ پرېوزی
زهٔ کله يو ژاړمه
کله د بل وير کؤم
يو مرور تصوير مې
چرته پخلا نهٔ کړلو

دې بې وسۍ ته د ځان
دې مجبورۍ ته د ځان
د ژوند فانی بازار کښې
ګوته په خلۀ پاتې یم

☆☆☆

پیر او ښه

په پیر زو دخدائې وا ه خلق ډېر لوئ ي
په ضب ئې بادشاهان هم خوري ډغرې
بلال څومره لرې وه څومره نزدې شو
ابوجهل که نز دې وۀ هم شو لرې

نعت

د انسان زړۀ کښې دې مینه یو په دوه کا
دا بدرنګه دنیا تا څومره ښائسته کا

رڼا ورځ ئې چې د شپې استعاره وه
رڼا تا په هغه خاوره کښې مېشته کا

ښخېدله به ژوندۍ تپوس ئې نۀ ؤ
تا مقام ښځې له ورکړو تا درنه کا
په راتلو دې که مکه کړله سپېڅلی
هم په تلو دې منوره مدینه کا

چې ازار په یو حالت چاته ونۀ کړو
زمونږ خُلې په دعاګانو اموخته کا
تۀ غم خوار د خپل امت ئې پېغمبرا!
تۀ په مونږ د شفاعت لمن خوره کا

کۀ اسیر ئې جوړېدل غواړې منګل!
درود وایه شپه او ورځ ئې وظیفه کا

☆☆☆

د هر یو زړهٔ تکور

ماشوم چې کوی زده کړه د ادې د سترګو تور وی
د هر یو زړ تکور وی
طوطې غوندې چغېږی د بابا په اوږو سور وی
د هر یو زړ تکور وی
سحر وختی پاڅېږی د الله نوم ئې په خلهٔ وی
ناراست عالَم ودهٔ وی
چې قدر د کتاب نهٔ کړی هغه به وایه څهٔ وی

داغلے به په زړهٔ وی

بسته ئې وی په ترخ کښې ر روان چې د خپل کور وی
د هر یو زړ تکور وی

بې بې چې ورته ګوری په جامو کښې نهٔ ځائېږی
بچی نه قربانېږی
دوه سترګې سپیلنی کړی ورنه ټوله لوګے کېږی
تاوېږی راتاوېږی

چې هره شپه ئې وینی هغه خوب د خپلې مور وی

د هر یو زړه ټکور وی

د علم زمانه ده هر ماشوم دا دولت غواړی

بس دغه شفقت غواړی
مقام په معاشره کښې د هر چانه اوچت غواړی

نړۍ کښې عزت غواړی

د علم په کالو چې وی ښائسته ملک به سمسور وی
د هر یو زړه ټکور وی
ښائست د خپلې خاورې وی ګلونو کښې اوسېږی
باغونو کښې وسېږی
ښارونه کړی اباد کۀ تورو غرونو کښې اوسېږی
په زړونو کښې وسېږی

منګل ئې یادوی هره مصرعه باندې ئې خور وی
د هر یو زړه ټکور وی

☆☆☆

ه

هغه اسیر هغه منګل وخېژی
چې ستا د تورو سترګو غل وخېژی

د محبت خو بیخی حد نشته دے
ښائست که جګ شی یو په سل وخېژی

زما په بل چا هډو زړۀ نۀ ورځی
زما د یار به څوک بدل وخېژی

هغه سپرلے به وی سپرلے د کلی
غوټه جبین چې پکښې ګل وخېژی

پرېږده چې نن غرونه رالاندې کړمه
پرېږده چې زړۀ مې په مزل وخېژی

منګ ! سود مې پېښور کښې وشی
چې څوک د کُرمې یا د ټل وخېژی

☆☆☆

○

ژوند چې دچا په انتظار تېرېږی
بې لارې کله وی په لار تېرېږی

د شک علاج بېخی کوے نشی څوک
ژوند خو د یو بل په اتبار تېرېږی

ستا اداګانو ته موسم هم ګوری
ته چې تندے تریو کړی بهار تېرېږی

شونډو ته اور ورکړه سکروټې ئې کړه
د ژمی شپه خو په انګار تېرېږی

ته که اسیر ئې کړې زنځیر به شلوی
منګل چې کله په ګلزار تېرېږی

☆☆☆

O

زۀ سوزېدم ما ، نیول رنګونه
ستا د ځوانۍ ګلاب سپړل رنګونه

ما خو محفل کښې تاته نۀ کتلو
خدائی زده چې تا ولې وهل رنګونه
ماته ئې داغ تاته ئې خال درکړلو
.. ی په هر ما ښیند ل رنګونه
له ټولو غټ رقیب خو وخت وختو
چې ستا له مخ ئې وتروړل رنګو ه

ما دا رښتیا هیچا ته هم ونۀ وې
تا به همېش په مخ مړل رنګونه
د سپرلی یو ځائې کښې پښې نه لګې ې
لر وۀ که بر وۀ ، ور مدل رنګونه

منګل ! وخت په پردو نۀ تېرېږی
غزل کښې وځلوه خپل رنګونه

☆☆☆

O

تور لوګے، توره کېږدۍ ده تک تور غر دے
د منګل توره شړۍ تر ئې دلبر دے

زړۀ د زلفو خوربدو سره خور نۀ شي
په تیارو کښې ئې رانغښتے سپین سحر دے
تا په بندې دروازې دے یقین کړے
ما خو تل درته پرانستے د زړۀ ور دے
هر یو ښکلے په خندا ورته رادرومی
زړۀ مې نۀ دے جوړ کابل یا پېښور دے
ستا د سترګو سمندر مې وارخطا کړی
ګنې کړے ما وبو کښې ډېر سفر دے

پښې ئې نه لګی په زمکه هوائی ځی
منګل چې بیا په څه باندې نظر دے

☆☆☆

O

نۀ سپوږمۍ ښکاری نۀ نمر خو رڼا وینم
زما خوب لکه رښتیا شو چې تا وینم

ماته خپل ځان خپله مینه شی رایاده
کوم سړے چې په محفل کښې تنها وینم
د خورو زلفو لښکر مخ نه راټول کړه
وره شپه په ماتېدو ده سبا وینم
پتنګان د مرګ نه پس هم پرې سوزېږی
ډیوه بله په مزار د اشنا وینم
د ترخې ورځې ترخو نه مې خدائی ژغوری
د خوږې ادې په شونډو دعا وینم
ستا د د ؤ سترګو چینه مې خُلۀ لونده کړی
ستا په زلفو کښې چې خوب د صحرا وینم

ستا راتلۀ د معجزې نه و کم نۀ دی
د منګل په وران کنډر کښې دنیا وینم

☆☆☆

o

وخــت لکــه تــریخ دے مــرچکے خــوږې خبــرې نشــته
اوس پــه دې کلــي کښــې دچــا شــونډې شــکرې نشــته

عربســتان کښــې چــې مــوږ نــه شــومه یــورپ تــه لاړم
بــې دپیســې نــه مــا ســره نــورې ســندرې نشــته
خــونی مارغــان زمــا دامــن یــو نشــان نــه پریــږدي
هغــه چــې ســپینې پړقیــدې هغــه کــونترې نشــته
جېنکــو تاســو ورتــه وښــائې د ورځــې ســتوری
لنــډ پــاري وائــی پښــتنو کښــې ســترګه ورې نشــته
درنــې بــلا مــې مشــاده د فطــرت رنګــه کړلــه
اوس پــه دې غرونــو کښــې ممــانې او ګرګــې نشــته
زه کــوم خــوا لاړشــمه دچــا دروازه وډبــوم
ښــار کــه ډېــر لــوئے دے خــو یــو ور هــم چرتــه لــرې نشــته

زمـ منګلــه مــا نــه بیــل ئــې کــړې اســیر ئــې کړلــې
هســې دې وې چــې پېښــور کښــې جــادو ګــرې نشــته

خدائې ګو که خبر له دې جهان یمه
تا چې زۀ په ځان کړمه، په ځان یمه

تۀ پورې کوه تورونه ما باندې
زۀ ویاړم په دې چې زۀ افغان یمه

خبر دے تاج محل کۀ نۀ وی نۀ دې وی
زۀ په خپل کنډر کښې شاه جهان یمه

تا کۀ کړم حساب په سرو کافرو کښې
زۀ دې ورور ګڼم زۀ مسلمان یمه

خوښ مې دی رنګونه لولکۍ نیسم
چرته چې ګلزار وی ورروان یمه

ښکلیو سره هېڅ منګ ! نۀ کېږی
کړم ئې چې اسیر خوښ بندیوان یمه

☆☆☆

O

هر سړے سوزی هر چا اور اخستے
ته څۀ خبر ئې، دنیا اور اخستے

زړۀ نه مې زلفې او رخسار نۀ وځی
زړۀ مې بېګا او سبا اور ا ستے
ماته ېرې کوه چې لګی په ما
زما قسمت په دعا اور ا ستے

نۀ چرته ګل او نۀ بلبل ښکاره شو
بیا د دې خاورې هوا اور اخستے
سترګو کښې ه ، یو کس اوبۀ را نۀ وړې
دنیا مې ګوری چې ما اور اخستے

تا نه بغیر دبوټي شنه پاڼه وه
تا چې کړه پورې حنا اور اخستے

منګل به څۀ له بل چا خبر اوغواړی
دۀ چې له خپلې قبا اور اخستے

☆☆☆

○

وږدې زلفې منګرې وې د کوم ښکلی
چې په توره شپه کښې ورک ئې کړم له کلی

هر انسان مې د رحمان شاهکار ګڼلے
ما پۀ مخ چې د شیطان کله توکلی
پۀ خزان کښې لکه وچ مېزرے سوزی
پسرلی چې څوک په ګل باندې ویشتلی

اوس د شرمه ژړېدلے چاته نۀ شم
خلقې راپورې دومره خندېدلی

زۀ به څۀ چاته د زړۀ حالونه وایم
ګرځی ډېر زما پشانې ګرګابلی[1] بدحاله
سر ټیټې په محبت کښې سر لوړې وې
دې وتی غوندې ېژې پریوتلې

د ستم مشق ئې منۀ نه ختمږې
عاشق ، عشوقو تل دې ازم لې

☆☆☆

O

داسې هم نۀ ده کله کله به یادېږم درته
د کانې سخته په زړګی کښې به اوسېږم درته

لکه د غر به دې توروالے د خاطر لرې کړم
ې سپینه واوره شم د زړۀ په بام رېږم درته
ماته تلے راکړه چې تا څوک د نظره نۀ کړی
ما سپېلنے کا چې په لار کښې لوګے کېږم درته
لکه د ګل مې وتومبه د خپل اوربل دپاسه
لکه د شمعې توره شپه کښې چې بلېږم درته
زړۀ چې نمر ته ورسی بېرته بیا ژوند نۀ غواړی
ما راغونډ نۀ کړې، خوره غېږه کښې خورېږم درته
تۀ خو هوښیار ئې ما به وینې کۀ تېرېږې به نېغ
زۀ لېونے یم لېونو کښې به ودرېږم در ه

د زړۀ غوټۍ به دې منګ ! شی غنچه د ګلو
په پسرلی کښې تکه شنۀ چې شم، خندېږم درته

☆☆☆

○

نۀ سحونه شول زما نه مانبامونه چرته
ته چې رانه غلې ما ونه لیدل وختونه چرته

مخکښې چې سترګې به مې ورغلې نو تۀ به راغلې
اوس مې په برخه شوګیرې شولې خوبونه چرته

ما نه چې ،تا د ښکلی مخ د ورکېدو ویره وی
زما په کور کښې دې بل نه شی چراغونه چرته

ازغی ئې لاسو کښې ماتېږی جوړوی هارونه
د داسې خلقو په نصیب وی سرۀ ګلونه چرته

هغه چې تا به هر سحر پرې د چا نوم لیکلو
هغه کاپیانې څه شوې هغه کتابونه چرته

دا خو په ما دے لوئی احسان د محبت منګل!
ګنې نو زۀ به چرته وے او دا شعرونه چرته

☆☆☆

○

داسې ئې توره نۀ خنجر غوڅوی
لکه بۀ چې د زړۀ سر غوڅوی

دلته په یو هلته په بل شکل وي
یو سړے ما په لر و بر غوڅوي

ګله خبره د ازغو خو نۀ ده
ستا نزاکت مونږه اکثر غوڅوی

شرطونه ووایه زۀ ملا ترمه
مینه چې جوش ووهی غر غوڅوی

زۀ د چا لاس یو ځائې نېولے نۀ شم
ما کۀ په کُرمه کۀ خېبر غوڅوی
نن خوشبوئی د زلفو نۀ راخېژی
نن هواګانې مې ځیګر غوڅوی

منګ ! چرته شمه پټ د وخت نه
چاړه د عمر مې زر زر غوڅوی

☆☆☆

○

د بېلتانه سارۀ وهلے یم تودېږمه لږ
د مخ پیتاوی ته که پرې مې ږدی اودرېږمه لږ

کوم یو ارمان دے چې کوز کړے مې لحد ته نۀ دے
نور په دې مړو باندې نۀ ژاړم خندېږمه لږ

ستا پۀ دیدن مې زړۀ راټول نه شو خورې کا زلفې
لکه باران په دغه غرونو راورېږمه لږ

بیا مې سحر راټولوه ټوټې ټوټې د وجود
اوس توره شپه ده سپینو لیچو کښې خورېږمه لږ

ښکله ژوند او دمرګ یو بل نه بیلتون نۀ کیږي
تا چې په خټ خټ وخندل زۀ س ژړېږمه لږ

☆☆☆

ه

د رنو اوښکو په رڼا کښې ستا تصویر جوړؤم
د ماښام لړه ده او زۀ یم خپل تقدیر جوړؤم

نۀ شجرې ئې راسپړم نۀ ئې تندے ښکلؤم
څوک چې قدرت وی ښائسته کړے هغه پیر جوړؤم

لکه ډوې تورو تیارو کښې پلوشې خوروی
د زړۀ د وینو نه چې زۀ کوم یو تحریر جوړؤم

کرښې راښکم راښکم ناڅاپه اوچت ټوپ ووهم
لیونے نۀ یم؟ چې په زمکه ئې تصویر جوړؤم

منګل د غرونو نه بغېر ګزران کؤلے نۀ شی
دا خو ستا مینه ده چې ځان خپله اسیر جوړؤم

☆☆☆

O

ایښی دې اوربل کښې چې د ګل په رنګ کلېپونه دی
بیا درته راوړی پسرلی د چا یادونه دی

وخت ې دے اوس له خو زمونږ زړونه دې شنۀ کړلو
تا هسې د قسطه نن وهلی شنۀ خالونه دی

چرته خو به ستا د نامې پال پکښې راوخېژی
مخې ته پراته مې د خوشحال ختک شعرونه دی

نۀ زۀ اوړېدے شم او نۀ تۀ پرې را ټلے شې
خلقو ودرولی دومره لوړ لوړ دېوالونه دی

نن ئې هم نقشونه د زړګی په کنډوالو کښې شته
ما په چنارونو ډېر لیکلی ستا نومونه دی

نۀ دے یو ماښام چې زۀ منګل ئې حساب وکړمه
ما بل کړی تل د خپلو اوښکو چراغونه دی

☆☆☆

د زخمی زړګی خبره

د شپې په خاموشۍ کښې د شپېلۍ په خلۀ سندره
کوی جوړې څوک چاته د زخمی زړګی خبره

زۀ وریت یم همېشه د انتظار سوې غرمه کښې
زۀ کله مېلمه نۀ شوم د خوارۀ اوربل په شپه کښې

لمبې د سپین رخسار دی چې مې خ ی له ځیګره
کوی جوړې څوک چاته د زخمی زړګی خبره

ټول شوکې شوکې پروت لکه ګرېوان د لېونی یم
خ ات ئې شم د سترګو نه یو موټے سپېلنی یم

لوګېږم ورته مخې ته چې نۀ شی له نظره
کوی جوړې څوک چاته د زخمی زړګی خبره

کۀ کانی کانی زړونه وی اور اخلی ویلی کېږی
کۀ ډېرې مستې سترګې وی لوندې شی راورېږی

منۍ ! ستا قصه چې ورته اوکړم مختصره
کوی جوړې څوک چاته د زخمی زړ ی خبره

☆☆☆

ترکې د باګرام

وایم حورې د جنت مې ولیدلې
زۀ چې ګورم کله ترکې د باګرام
په یوه مې صبر نه شی یم بې صبره
خدا ! راکړه یوه بله هم انعام

یووالے

د بدامنۍ چپه خوره ده د وطن په سیمه
د تحفظ احساس نابود دے زمونږ خپل کلی کښې
د چا عزت د چا غیرت د نا دنیا دوړه شوه
دغسې اورو داسې کېږی د یو بل کلی کښې
اوس هغه مینه مینه نشته نفرتونه دی ټول
ګودر تالا دے ورشو شړه ده په ګل کلی کښې

☆☆

تیاره خوره ده لا په مونږه تیاره کېږی نوره
مونږ ښهٔ اودهٔ یو نهٔ پوهېږو د تیارو وطن کښې
دا توره شپه څهٔ اوسنۍ نهٔ ده ملګرو په مو ږ
یوې مودې نه پاتې کېږو د تیارو وطن کښې
ښاپ ک کله په مفهوم د سپین سحر پوهېږی
خاندو یو بل پورې چې لوېږو د تیارو وطن کښې

☆☆

مینه خفه ده، مروره ج ته لرې تلې
زړونه توربږی او ترم ځه فاصلې زیاتېږی
شېطانان ټول دی ایله شوی نحوست خوروی

لارو کوڅو کښې د یارانو و ې سرې بهېږی
هر کور کښې ویر دے او ژړا ده د مرګی نڅا ده
د انسانانو هدیرې دی چې په مونږ پلنېږی

☆☆

کله مذهب، کله د قوم کله د ژبې په نوم
چړې په لاس ګرځو دنیا نه آدمیت ختموو
بیا چې په هېره هم څوک نوم د مسلمان وانۀ خلی
مونږ د اسلام اسلام په غږ اسلامیت ختموو
په شمنانو باندې زبرے اوکړئ کار ئې اوشو
خپله یو بل وژنو هم خپله مرکزیت ختموو

☆☆

لوندېږی خلۀ په خپلو لاړو زمونږ خُلې وچې دی
څۀ ترخې رځې ترخې شپې دی نن په مونږ راغلي
څوک دی چې ویلې له وطنه د نفرت واورې کړی
لکه د نمر په پلوشو کړی دغه سیمې ښکلي
راکړی سبق د یو و ود خوارۀ وارۀ راغونډ کړی
و ځلې بیا په دې دنیا کړی مونږه یاد ښاغلي

☆☆☆

سندره

ټوله لار پرې واوره وربدلې ده
دا جینۍ د غرهٔ سر نه راغلې ده

دا د ګلو څانګه رنګینی ویشی
دا د زړهٔ په للمه پسرلی ویشی

پټه په پلؤ کښې خندېدلې ده
دا جینۍ د غرهٔ سر نه راغلې ده

کله مړه مړه ځانګی د غوټۍ په شان
کله پرېوځی پاڅی د مرغۍ په شان

ښکاری چا په زړهٔ باندې ویشتلې ده
دا جینۍ د غرهٔ سر نه راغلې ده
لاړه د چنار خوا ته تکیه شوله
خور ئې کړو اوربل وږمه وږمه شوله

څوک منګله ګوری چاته غلې ده
دا جینۍ د غرهٔ سر نه راغلې ده

☆☆☆

مور

ما چې ترۀ د دنیا ولیدلو چغه مې کړه
زما اول مور ! په تا سترګې خوږې شوی دی
د ستا د غېږې مدرسه وړومبے مکتب دے زما
تانه شورو ټولې د مینې سلسلې شوی دی
ما پېژندلے د درخو او شېر بانو داستان دے
چې ستا په شونډو راخورې کومې قیصې شوی دی

☆☆

ستا په تندی کښې چرته ګونجې ما سهی نه کړلې
ته د نفرت په چاپېرچل کښې محبت ئې زما
زۀ د دنیا په سر دوزخ کښې چې ستی ستی شم
ستا روڼ تندے مې اسوده کړی تۀ جنت ئې زما
تۀ چې ما ښکل کړې معتبر شم نازۀلے شمه
تا کښې څه چل نشته تۀ داسې برکت ئې زما

☆☆

تا په ګوتې کښې کومه مینه راپېرزو کړې ده
شمه به مړ دا پېرزوئېنه هېرولے نۀ شم
ستا د خدمت زۀ که بې شماره لافې ووهمه
ستا په شان چرته یوه شپه عذابولے نۀ شم

زۀ که په شا دې کړم او حج ته دې مکې ته بوځم
بیا هم اد ! ستا احسانانونه خلاصولے نۀ شم

☆☆

بغېر له تا نه خو زۀ ړوند یم څه کتلے نۀ شم
زۀ خپلو دوو سترګو دپاره ستا نظر غواړمه
تۀ چې تسبې اړوې ناسته مصله باندې ئې
زۀ همېشه د برکت دغه منظر غواړ ه
چې د ژوندون په سوراړو کښې چرته ونه سوزم
زۀ د الله نه د ستا سېورې په خپل سر غواړ ه

☆☆

تا زۀ پوئې کړے په خوږۀ او پسته ژبه یمه
ما که قصداً او یا سهواً چرته خطا کړې ده
بلها ځایو کښې راوتے د بلا خلې نه یم
زما دپاره تا چې خپل خدائې ته دعا کړې ده
زۀ که د بل چا نامه واخلم دروغژن به یمه
خوږې اد ! ماسره مینه تا رښتیا کړې ده

☆☆☆

ایمان

تنـــــــده کامیابـــــــه نـــــــۀ شـــــــوه
لـــــــوږې شکســـــــت وخـــــــوړو
تشـــــــد د هـــــــیڅ ونـــــــۀ کـــــــړل
بـــــــلا لنبـــــــکرې راغلـــــــې
بـــــــلا ظلمونـــــــه وشـــــــول
څـــــــوک د شـــــــمر پـــــــه څېـــــــرې
څـــــــوک د یزیـــــــد پـــــــه شـــــــکل
خـــــــو ایمـــــــان خـــــــرڅ نـــــــۀ شـــــــولو
ضـــــــمیر، ضـــــــمیر پـــــــاتې شـــــــو
کـــــــربلا وینـــــــه غوښـــــــته
زلمـــــــو پـــــــرې ښـــــــه مـــــــړه کـــــــړه
د وېـــــــرې بـــــــت مـــــــات شـــــــولو
ژونـــــــدون کښـــــــې ســـــــاه راغللـــــــه
بیـــــــا هـــــــر چـــــــا دا حقیقـــــــت
پـــــــه خپلـــــــه ومنلـــــــو
چـــــــې کـــــــوم ســـــــر خـــــــدائی تـــــــه لګـــــــی
هغـــــــه د بـــــــل پـــــــه درشـــــــل
چـــــــرې هـــــــم نـــــــۀ ټیټېـــــــږی

☆☆☆

ملګرو وار اوکړئ درځمه

ګېډی ګېډی غنم درمن ته رسؤمه، ملګرو وار وکړئ درځمه
لالے یوازې دے غله سنبالؤمه، ملګرو وار وکړئ درځمه

وخت د غوبل دے کار سېوا دے
تندې اخستے مې اشنا دے
لګیا سحر نه په یو سا دے

یخې شملې منګی کښې پټې ورته وړمه، ملګرو وار وکړئ درځمه

چرته د سیند خوا کښې پټی دی
چرته له ګلو تاؤ ازغی دی
چرته مو زمکې بارانی دی

چې شم وزګاره بې دانه توت به څنډمه، ملګرو وار وکړئ درځمه
له هر چا مخکښې مخکښې کېږی
جونه په کور نۀ ایسارېږی
زلمی چې لؤ ته راونېږی

زۀ د منګل نه پاتې وږی ټولؤمه، ملګرو وار ورکړئ درځمه

.....

په دې رنګه دنیاګی کښې

سر به لوړ د محبت وی
ستا راتلۀ چې حقیقت وی
دا به زړے د جنت وی
په دې رنګه دنیاګی کښې

ستا پستې مهینې لېچې سپینې واورې د سپین غرۀ دی
د ښکاری نظر رانیسی لکه زرکې ستا لیمۀ دی
حسن نوم د صداقت وی په دې رنګه دنیاګی کښې

نېغې نېغې شی چیچی مې د ستا زلفې ښاماران دی
قند چې خورم زهر به څښمه ګټې شوې په تاوان دی
په دیدن کښې هم فرقت وی په دې رنګه دنیاګی کښې

لګوی په زړۀ نوکارې ستا وړې وړې خبرې
حلوایان هم هټی بند کړی ګوری ستا شونډې شکرې
بل به کوم داسې خوږلت وی په دې رنګه دنیاګی کښې
په سپرلو پسې ګرځېږی ستا منګل په مینه پوئې دے
لېونے دے د رنګونو د ګلونو مینۀ کښې لوئې دے

خـــدائې زده څـــه بـــه ئـــې قســـمت وی
پـــــه دې ړنګـــــه دنیـــــاګی کښـــــې
دا بـــــــه زېـــــــرے د جنـــــــت وی
پـــــه دې ړنګـــــه دنیـــــاګی کښـــــې

☆☆☆

یو شعر

جهان تهور نبه دے سترمنه! ستر مات نهٔ کړی تهٔ
جهان کښې نهٔ وی چې تیارهٔ، رڼا به څه پېژنم

د وطن په نوم

وینم دې چې زۀ تا د ماضی په تصویرونو کښې
ماته شی راياد خپل ننګیالی تېرو وختونو کښې
ستا د خاورې بوئی دے زما ټولو داستانونو کښې
ستا د تدبر ولولې پړق کوی په غرونو کښې
ستا د مدوجزر ننداري ډکو سیندونو کښې
جونې یادوی دې همېشه په ګودرونو کښې
درز د ثقافت دې ښځی ګرمو اتڼونو کښې
تۀ جوړ لمبېدلے ئې وطنه په رنګونو کښې

مور راله راکړې په ګوتې کښې دا ستا مینه ده
ماته هره دشته دې د شاتو نه شیرینه ده

اوسی ښاریو کښې کۀ مېشته په تورو غرو کښې دی
ستا د محبت سندرې وائی په مزو کښې دی
غم ستا د ناموس لرې ولاړ په مېړنو کښې دی
ګرمې ئې جذبې د عقیدت خپلو زړګو کښې دی
ایښی ستا دپاره ئې سرونه په تلو کښې دی
ستا د شهیدانو وینې توئې کلی کوڅو کښې دی
نن هغه عکسونه ټوکېدلی پسرلو کښې دی

پټ مې د نیکونو تاریخونه زمانو کښې دی

حال دے که ماضی دے ستا له مخه مې رنګین ښکاری
دلته هر وګړے ستا د لړ ی عظمت امین ښکاری

سرې خړې مېرې دی که ګلونه ګلستان زما
چرته سپینې واورې چرته ورو نرے باران زما
ستا په یادؤلو تازه کېږی زوړ ایمان زما
تۀ چې ښاد اباد ئې تماشه کوی جهان زما
څو پورې چې دې وجود کښې وی لږکوټی توان زما
ستا د نګرانۍ نه به غافل نۀ شی دا ځان زما
خد ئیګو کۀ څۀ کار مې وی په سود او په تاوان زما
هسکه دې نامه وی بس یو دغه دے ارمان زما
نۀ دې شته ثانی ددې جهان ټولو تحفو کښې ستا
وی تل تذکره به د منګل سوو نغمو کښې ستا

☆☆☆

O

له هر یو ښکلی صدقه مې کړله
ځوانی د تلو وه سره لمبه مې کړله

ساده سړ ! بیا سپرلے نۀ راځی
چا وے د ښکلیو نه توبه مې کړله

ستا د لنډۍ زنې د خال ذکر وۀ
لنډه خبره وه اوږده مې کړله

کلی ته بیا شوه نوې لوبه جوړه
زاړۀ خبره ګنګوسه مې کړله

منګل اسیر چې شو د سپینو لېچو
اوربل مې خور کړو توره شپه مې کړله

☆☆☆

O

ې ! ې خلق سوزېدلی دی
تا چې په لمبو شونډو خندلی دی

نیسم دې کمڅۍ پرېږده چې مړ شه
تورو منګرونو ډېر خوړلی دی
تا کۀ دی لیدلی مېکدې د ښار
ما د تورو غرونو ښګ ګوټلی دی

چا باندې شم ټیټ د چا ویر اوکړمه
پلنې هدیرې اوس ددې کلی دی

خوب ئې رانه یوړلو یادونو دې
غلۀ لکه د نیمې شپې راغلی دی
هاغه ې ښاغلیو ته څه نه ښکاری
هاغه لیونی خلق ښاغلی دی

تل ته کوزېدے د اباسین شمه
ما منګل په کُرمه کښې لمبلی دی

☆☆☆

○

هم مسیحا هم مې اجل تۀ ئې
زما د هرې ستونزې حل تۀ ئې

د ستا په وړاندې او ستائنه د بل
توبه توبه غزل غزل تۀ ئې

ماته کیږ د بادشاهانو مۀ کړه
زما د مینې تاج محل تۀ ئې

چرته سودا دې سوداګر ونۀ کړی
په غه رنګ کلی کښې ګل تۀ ئې

زما په ژوند دې خدائ پوره کا یارا!
نیم پېښور نیم په کابل تۀ ئې

منګل! ورانې د تن ی کرښې کړه
کۀ هر څو ستړے په مزل تۀ ئې

☆☆☆

ه

نۀ خبر ئې څوک راوړی نۀ راستنې دی
مونږ نه مخکښې ډېرې تلې قافلې دی

ستا له مخ مې اوربل واخست سبا نه شو
معلومېږی پټې زړۀ کښې دې لا شپې دی
وایه کومه درته وایم کومه پرېږدم
زاره چاؤدې ددې وخت ټولې قصې دی

څوک بې غمه د اوربل غوټې پرانزی
چا په شپو د وتو کړې فېصلې دی

ځه چې دواړه د یو بل په لټون وځو
دنیا پرېږده د دنیا ډېرې لانجې دی
په دې لنډ تنګ وخت کښې څه معنیٰ ئې وکړم
تا چې پرېښې په اوږو زلفې اوږدې دی

ما سینګار د ګل لیدلے دے منګل!
خپلې شونډې ئې په خپلو وینو سرې دی

☆☆☆

O

په خلۀ به څه وائی چې کوم یمه زۀ
د یار په زړۀ لیکلے نوم یمه زۀ

وخت که د هر چانه ظالم جوړ کړلو
ما ظلم زده نه کړو مظلوم یمه زۀ
نۀ مې پرهر ګل کړو نۀ اوښکې باران
په پسرلی کښې څومره شوم یمه زۀ
زما د ژوند دعوه دروغ ده بېخی
چې ژبه نۀ لرم مرحوم یمه زۀ
چې چرته تور وی پورې کېږی په ما
کم عقل نه یمه، معصوم یمه زۀ
ماته کۀ راغلې ما به بیا نۀ مومې
په خپل کالۀ کښې نامعلوم یمه زۀ

وخت خو به لګی چې جانان پېژنم
منګۀ ! مینه کښې ماشوم یمه زۀ

☆☆☆

ه

د خپلو ډېرو ارمانونو مینځ کښې
لکه څوک ناست وی د قبرونو مینځ کښې

زۀ په ډاب ځان له زړۀ نه ښه کوم
زۀ نه پټېږم د رنګونو مینځ کښې

رڼې چینې چې ستا د سترګو نشته
نۀ کښېنی څوک د ګارونو مینځ کښې

ستا د ښائست ښار چې چا ولیدلو
بیا ئې وخت تېر نۀ شو د غرونو مینځ کښې

ورځ تېرؤم د رنګ او بو په تکل
شپه مې خلاصېږی د اورونو مینځ کښې

د جانان سترګې به دې وړی منګل!
ګرځې چې تۀ ددې سیندونو مینځ کښې

☆☆☆

○

هغه د هر چا نه وی ښه په زمکه
ځان له چې ځائی ګوری د زړۀ په زمکه

ستا کانی کانی زړۀ کښې جرړې کوم
لکه ننښتر خېژی د غرۀ په زمکه
دغه اسمان په هر چا اور وروی
که نۀ بس مونږ شولو وراتۀ په زمکه

مونږ خپل زلمی ځنګه راوګرځوو
مونږ کړه تیاره د نمر خاته په زمکه

زما د خاورې رنګ زما چې نه دے
نۀ شوم قلار نۀ شوم ،دۀ په زمکه
راځئ چې سا واخلو وخت وپېژنو
تر څو به ژوند تېروو مړۀ په زمکه

منه ! هر سړے پوکے ورکوی
بلېږی اور د پښتانۀ په زمکه

☆☆☆

O

ژوند کښې رنګونه خورؤم ښکلے دلبر لټؤم
ځم په سفر ځان له یو نوے هم سفر لټؤم

زۀ خو قائل یمه اشنا د ستا د دنګې غړۍ
نۀ په چنار پسې ګرځېږم نۀ نښتر لټؤم

دا دنیا ځاے دے د ازغو دلته خوب ونۀ کړو چا
ساده خو ۀ یم چې د سرو ګلو بستر لټؤم

ستا د سفر لورے یو کس ماته په ګوته نۀ کړو
زۀ لار کښې هر څوک ودرؤم هر مسافر لټؤم

منګل! ما نۀ کړو پېدا چرته اسیر د زلفو
ښار کښې شوم ستړے، ځمه اوس ورپسې غر لټوم

☆☆☆

ن

هره ورځ سوزم په اور کلے خاموش دے
په چا پورې کړمه تور کلے خاموش دے

ځه چې دواړه تاج محل دمینې جوړ کړو
ځه چې اوځو په یو لور کلے خاموش دے
ماچې غږ اوکړو غږ بېرته راواپس شو
هېڅ راونه ختو شور کلے خاموش دے
خرڅوه ئې نن که هر څه خرڅوې ته
وېره نشته دپېغور کلے خاموش دے
زمونږ ستړې شوې اوږې په ډېرو مړو
اوبه نه شو دمرګ زور کلے خاموش دے
مسیحا که چا نن هم په ګوته نه کړو
زخم نوره به شي خور کلے خاموش دے

مونږ دیو بل تماشا کوو منګل!
سرې لمبې دي کور په کور کلے خاموش دے

سپوږمۍ ته ګورم ، ګلونه به څارم درپسې
زۀ مص ر یمه رنګونه به څارم درپسې

لکه د روح مې چې وجود سره یو کړے نه ې
سفر به پرې نۀ ږدم ملکونه به څارم درپسې
تۀ پټوه په تورو زلفو کښې رڼا د رخسار
زۀ ښونے یمه دا غرونه به څارم درپسې
د قبر خاؤرې چنۀوم ایرو کښې ګوتې وهم
تۀ زما خوښ ئې کنډرونه به څارم درپسې
د ښار غرمې چې لنډۀوم ستا د اوربل سورى ته
تا راولم ړنګ دېوالونه به څارم درپسې

منګل! تۀ چې کومو ډوبو سترګو یوړې رانه
ما دې هم یوسی دا سیندونه به څارم درپې ې

☆☆☆

O

کلے به پرېږدمه تا نۀ پرېږدمه
زۀ په دنیا کښې دنیا نۀ پرېږدمه

چې لټومه پکښې سپین مخونه
د تورو زلفو سودا نۀ پرېږدمه

د چم نه تېښته وایه څنګه اوکړم
محلت کښې تا زۀ رسوا نۀ پرېږدمه

چې مړۀ کوی لکه ډیوې مخونه
په کلی داسې هوا نۀ پرېږدمه

خدائے زده چې یا به سره وینو یو بل
نن دې له کوره اشنا نۀ پرېږدمه

چرته اسیر چرته هغه منګل!
قبلېږی نۀ خو دعا نۀ پرېږدمه

☆☆☆

O

په تېرو کانو لګېږم نۀ پوهېږم
ستا کوڅه کې راتېرېږم نۀ پوهېږم

درانۀ غم دې نرۍ ملا راله کړه کړه
نرۍ څانګه یم ماتېږم نۀ پوهېږم

ستا چاړه چاړه ز ر ته مې زړۀ ایښے
خدائی زده مرم کۀ پاتې کېږم نۀ پوهېږم

د دې وخت مثال د شګې دے دوړېږی
د کمر په سر وسېږم نۀ پوهېږم

عجیبه ده اوس په هر څۀ پوهېدمه
تۀ چې راغلې نۀ پوهېږم نۀ پوهېږم

دا د روغ سړي کار چرته دے منګل!
دا له یار چې قربانېږم نۀ پوهېږم

☆☆☆

○

ستا ظر چاره چاره
زما زړه لکه پسه

څه چې وویم سحر
د شپې نه شمه اوده

خوری انسان لکه ټپپر
خلک شته سړی خوارهٔ

شی د ډبرو خلی ترخی
تهٔ چې وګوري خواره

نمر که مونږ وینو اول
بیا هم دهٔ دلته تیاره

که تهٔ وینې خپل انځور
څیری کا د منګل زړهٔ

☆☆☆

○

حسن شو خور چې غوټۍ ځان څيرې کړو
حسن شو ټول چې ما ګرېوان څيرې کړو

پۀ پسته خوله شولو راتاؤ نړۍ نه
تېرو غاښونو ئې انسان څيرې کړو

خدائی به هغه هم سلامت پرې نۀ ږدی
چا چې دستار د لوئی افغان څيرې کړو

تا شپونکے وسو تا شپيلۍ ماته کړه
تا خو زما هر يو داستان څيرې کړو

زۀ د بل چانه هيڅ ګيله نۀ کؤم
زما تصوير زما جانان څيرې کړو

واخستل عشق چې پښتنی رنګونه
منګل! ما هر يو ارمان څيرې کړو

☆☆☆

○

خپل چې نه شولو نیتونو کښې څۀ چل شته
زړونه ګورو لکه زړونو کښې څۀ چل شته

داسمان په ګردشونه کښې څه چل شته
ماته نه ګوري وختونو کښې څۀ چل شته

په یخ مي نغرے زړۀ لمبه کړي
په دې واورو بارانونو کښې څه چل شته

شنۀ طوطیان شکرې پرېږدی ښکلی ګوری
د لنډۍ زنې خالونو کښې څۀ چل شته

تنده نوره مې سیوا کړي تا راياد کړي
دې چېنو دې چېنارونو کښې څه چل شته

هر یو رنګ ئې دپښتون دپټکي ول دے
د خېبر په خړو غرونو کښې څۀ چل شته

توره شپه ئې رڼا نه کړه لا تياره شوه
اور ئې خور کړو چراغونو کښې څه چل شته

جفا هم ګورې يو فن دے او هنر دے
چل کوه يار ! چلونو کښې څۀ چل شته

چې درنې درنې شملې ورته ټيټېږی
په شلېدلو ګرېوانونو کښې څۀ چل شته

دا چې ستا غوندې خودسره ئې اسير کړو
د منګل په ې شعرونو کښې څۀ چل شته

☆☆☆

○

د ګټې وخت دے قربانی څۀ کوی
اوس څوک پښتو، پښتونولی څۀ کوی

امانی وینه څښی زړے راولی
د ستا د چم مازدیګری څۀ کوی
په ما ئې شپه په رڼا ورځ راوسته
د تورو زلفو منګری څه کوی

هر چا معیار دے د دولت ټاکلے
اوس په دې کلی کښې سړی څه کوی

راځه چې ځو د تورو غرونو خوا ته
د ښار په دوړو کښې سپرلی څۀ کوی
زړۀ ته مې ووې پام لمبه چې نه شې
اوس څوک لوګے د سپېلنی څۀ کوی

چې د جانان په څنګ کښې نۀ وی اسیر
منګل ګلونه د سپرلی څۀ کوی

☆☆☆

سدم ته شین دے

خوارۀ وارۀ چې په یو ځائی راغونډ کړی
داسې ادې لا ګه شوې نۀ ده
د ابدالی نه پس سدم ته شین دے

ډیوې

ځلؤم اوښکې د ښو په څوکو
چې وی پراتۀ د ارمانونو مړی
په زیارتو خلق ډیوې بلوی

بلاګانې

نۀ یم بلد زۀ بلاګانو سره
ما د اوربل سوری ته مۀ کښېنوه
جانانه سترګې په ما تورې نۀ شی

پیچومے

هغه کېږدۍ کښې ځانله ناسته ینۍ
لکه د اېشمې راخوره شی په ما
منګ ! زۀ چې په پېچومی خېژم

توره کېږدۍ

د جګو غرو مینځ کښې د خوړ په غاړه
د پښتنی حسن غرور پروت دے
توره کېږدۍ کښې سپین لالټین بلېږی

واوره

تـــۀ کـــۀ واوره ئـــې غونـــډېږې
اســـــوېلو ســـــره کلکېـــــږې
همېشـــــه بـــــه داســـــې نـــــۀ وی
پـــه دنیـــا کښـــې چـــې وســـېږی

☆☆☆

کُرمه

خدائی زده غزل دے که ټپه ده کُرمه
د شاعر خیال باندې خوره ده کُرمه

کۀ په رقبې سوات نه وړه ده کُرمه
لکه روپۍ په تول پوره ده کُرمه
د ښکلیو تنده په ګودر ماتیږي
د چنارۀ لاندې چینه ده کرمه

ښار کښې چې ورک شي راپیدا شي دلته
په زړۀ صفا ده ائینه ده کرمه

درباب ګک دے دشې ۍ نغمه ده
دفطرت غږ ښې زمزمه ده کرمه
دپښتانۀ د ظمت خوب به ویني
دمنډاهیر غیږ کښې ودۀ ده کرمه

هاړ پشکال کښې پسرلے که ګورې
کرمې ته راشه ننداره ده کرمه

چې بيرته ځم پښې مې درنيږي ورووررو
دا زۀ نشه يم که نشه ده کرمه
يا خو ئې زۀ لېونے کړے يمه
يا د جنت د باغ ټوټه ده کُرمه

بيا لاره بند ده د باردو بوئی دے
بيا چې د چا په وينو سره ده کُرمه

منګل ! بدې ورځې ټيټه نه کړه
دپښتونخوا جګه شمله ده کرمه

☆☆☆

کاکا

منم ويښتو باندې زړۀ نۀ سپينېږی
خو زۀ په ځان باندې چک ولګؤم
ناڅاپه څوک راته کاکا ووائی

سېزل کوی لمبې دی

وږمې د تور اوربل په توره شپه کښې راخورې دی
سېزل کوی لمبې دی

دوه سترګې راوربږی د باران ترمې شببې دی
سېزل کوی لمبې دی

☆☆

د دوو مئینو مینځ کښې فاصلې د غرونو غرونو
ربېل کوی د زړونو

چې راشی د یار لوری، څۀ به وائې د ښادونو
شی مالګه په زخمونو

خبرېږی به څوک څۀ د مسافرو څنه شپې دی
سېزل کوی لمبې دی

☆☆

عاشق چې معشوق نۀ وینی بې اوره وسوزېږی
وخت ځائی باندې ودرېږی

هېره هېره مئین چرته یو ځائی کښې نۀ ټینګېږی
یو څړیکه شی خورېږی

لمحې د انتظار لکه د هاړ سوې غرمې دی
سېزل کوی لمبې دی

د مینې په ورشو نن وربدلې بیا ږلۍ ده
سړه سړه سیلۍ ده

نۀ سوال شته نۀ جواب شته ډېره لرې ګلالۍ ده
خالی زما ځولۍ ده
منګل ! یم بې صبره د جانان نېټې اوږدې دی
سپزل کوی لمبی دی

☆☆☆

شمله

هیله ونه کړې پښتونۀ همت وکړه
د پښتو ګلونه وټومبه پګړۍ کښې
چې ناکام د فسادیانو هر فساد شی
شمله نېغه کړه اوچته په نړۍ کښې

.....

د زړۀ خبره

د زړۀ خبره مې په خُلۀ راځی نن
واوره خبره درته سپینه کؤم
زما د باز نه بېخی زړۀ تور شو
زۀ اوس کونترې سره مینه کؤم

.....

واګې

چې ئې واګې د حیوان په لاس کښې ورکړې
لُور ئې چغه کړه چې وسوزې ژوندونه
پلار ئې ښۀ اوری خو نۀ اوری دولت دے
هۀ په ګېډه باندې موړ مۀ شې پښتونه

چې ووايو سندرې

په کلی کښې له مونږ خطا کوی لارې ګودرې
چې ووايو سندرې
راځه د غرونو سر ته د دې خلقو نه ډېر لرې
چې ووايو سندرې

که سپينه پاغونده وی په پېغور دلته توربړی

ښائسته جونه توئېږی

نۀ مينه څوک کوے شی نه په مينه څوک پوهېږی

د زړۀ خونه رنګېږی

زۀ خېژمه په بام الوزوم سپينې کونترې

چې ووايو سندرې

پرهر پرهر ژوندون کښې که د څه څيز ، قيقت دے

د مینـــې کرامـــت دے

معـــراج د ســـرېتوب دے چـــې چـــا کـــړے محبـــت دے
د دې دنیـــــــــــــا جنـــــــــــــت دے

ښـــکاره بـــه کـــړو نـــن دواړه د زړګـــی پټـــې خبـــرې
چـــــــې ووایـــــــو ســـــــندرې
چـــې فکـــر وی روښـــانه ســـمه غـــر ډک کـــړی پـــه مینـــه
تیـــــــــ ره لـــــــــه منځـــــــــه وړینـــــــــه
بـــوډی هـــم فضـــا جـــوړه کـــړی پـــه ټـــال ښـــکلے رنګینـــه
هـــــــــوا شـــــــــی لونګینـــــــــه
منګلـــا ! بیـــا بـــه تښـــتی دا د غـــم تـــورې لښـــکرې
چـــــــې ووایـــــــو ســـــــندرې

☆☆☆

ډکره

چې.....زمنا...تورو ویښتو نه دې رنګ یوړو
وخ ! ورک شي وخته څۀ توره بلا ئې
ما په مخ ئې لا خالونه هم شمار نۀ وو
سپینو ډکو راته ووې ې بابا ئې

د چنار ونې د لاندې

چې ناست به زۀ او تۀ وو د چنار ونې د لاندې
نرۍ نرۍ به کُرمه بهېده زمونږ په وړاندې

شپېلۍ ته به پوکے ورکړلو چا د توت په خوا کښې
یو خوږ غوندې د مینې غږ به خور شولو هوا کښې
فضا به شوه نغمه نغمه د سوز په دې ز ا کښې

په زړونو کښې ذبې د محبت به ئې کړې تاندې
نرۍ نرۍ به کُرمه بهېده زمونږ په وړاندې

خوره به چې شوه ایشمه ستا د زلفو ښادې[1] مخ نه
کاروان دا رنګ و بوبه راروان شو ستا د مخ نه
جنت به شولو جوړ زما د ژوند د سور دوزخ نه

په نیت د نظرماتی به لمبه کړلې چا ساندې
نرۍ نرۍ به کُرمه بهېده زمونږ په وړاندې

---

[1] د تل یو تور غر

خبر چې د اختر به کړو ما پورته په ټپه کښې
په سر د بکرکانۍ* به اور بل شو توره شپه کښې
یو درز د خوشحالۍ به شولو خور کلی کوڅه کښې

تا چغې به وهلې خلقه زبرے مې درباندې
نرۍ نرۍ به کُرمه بهېده زمونږ په وړاندې

که ګل ومه د غرونو غوړېدلے ستا په ټل وم
په هېڅ نه پوهېد ه یو ساده باده منګل وم
څه یاد خو به دې وی چې زۀ اسیر ستا د اوربل وم

زۀ اوس هم لېونے یمه زۀ وایم د غم ساندې
نرۍ نرۍ به کرُمه بهېده زمونږ په وړاندې

☆☆☆

---

* د ټل یو سور غر. د وړوکی اختر د میاشت په لیدو د علاقې زلمی ددې غر په سر اور بلوی چې ورته په مقامی لهجه کښې "میرګن" وئیلے شی.

تۀ چې مئین ئې په رنګونو
خپلې جامې په خپلو ګوتو ګله ومه
تۀ ې مئین ئې په رنګونو
باغ کښې ګرځېږمه ګلونه ټولؤمه
تۀ چې مئین ئې په رنګونو
زما به کله کړې پوښتنه
زما په سرو لاسو مئینه

زۀ خو نکریزې هره شپه پورې کؤمه
تۀ چې مئین ئې په رنګونو
تۀ رانه لاړ کۀ په سفر ئې
وسې مې زړۀ کښې د زړۀ سر ئې
د خپلې غاړې لونګین به درلېږمه
تۀ چې مئین ئې په رنګونو

تۀ وې منګل خو ما اسیر کړې
د زړۀ په فریم کښې مې تصویر کړې

په لاره ځم د پسرلی ټپې کؤمه
تۀ چې مئین ئې په رنګونو

.....

د حسین رض په غم

چا وې چې زړېږی زمانه د غم
ګوره بیا تازه شوله قصه د غم

شی د کربلا مخکښې وړه د غم
وی کۀ ډېره لویه سانحه د غم

خدائی چې رالېږلو کله زمکې ته
خدائی ادم ته ورکړله تحفه د غم

جام ثۀ وی ساقی ثۀ وی منت ثۀ وی
کله چې یو سر کښې وی نشه د غم

بیا نن تذکره د سپورو شونډو ده
خدایه ماته راکړې حوصله د غم

ستا د پرهرونو سپرلے نغاړمه
ناست یمه لیکمه مرثیه د غم

وړانګه د سحر وې وړانګه پاتې شوې
غوڅه دې په وینو کړله شپه د غم

لیکم ئې منګل ! د حسېن په مخ
ده مې د هر شعر هره مصرعه د غم

☆☆☆

کاش

دا حقیقت دے چې زما نۀ ئې تۀ
خو په دې طمع باندې وخت تېرؤم
کاش ! دا رښتیا چرته دروغ وخېژی

لویه خدایه

خد ! تۀ مونږه زلمی کړې
رانه جوړ غټ غټ سړی کړې
څوک په څېر د ابدالی کړې
څوک ه څېر د افغانی کړې

څوک خوشحال کړې څوک رحمان
خپل ادب چې کړو روښان
د اقبال فکر مو مل شه
چې کړو ویښ اودۀ افغان

چرته وار مو خطا مۀ کړې
له منزل مو په شا مۀ کړې
مستقبل مو چې جوړ نۀ وی
شپه اوږده کړې سبا مۀ کړې

خپل ملت چې سربلند کړو
خپل هېواد خرم خورسند کړو
د ماغلیو په نوم یاد شو

خوار اولس خپل بهره مند کړو

مونږ په نېغه لار روان کړې
په مونږ ښکلے دا جهان کړې
لویه خدایه، لویه خدایه
ماشومان مونږه ځوانان کړې

☆☆☆

یو شعر

بیا دې راته راکړو د ځوانۍ احساس
بیا دې زۀ په طمع د سپرلی کړمه

ملامت

جاڼ ! تاته ملامت ۀ وايم
ماته د ښار ماحول ډېر ښۀ معلوم دے
سپيني اوبۀ هم دلته رنګ اړوی

☆☆☆

اېشمه

زۀ ورته ناست يمه په بر کنډۀ کښې
د چا د زلفو خوشبوئی خورېږی
د سحر اېشمه ده په غرونو لګی

☆☆☆

د غرونو سر له ځمه

یـــاره کبـــردی کښـــی درنـــه مرمـــه خپـــل کنـــډر لـــه ځمـــه

د غرونـــو ســـر لـــه ځمـــه

کلـــے مـــې خـــوښ دے چـــې مـــنګے پـــه ســـر ګـــودر لـــه ځمـــه

د غرونـــو ســـر لـــه ځمـــه

د مـــړاوی ګـــل پـــه شـــانې دشـــتو کښـــې خـــوره نـــه شـــمه

زۀ درنـــه مـــړه نـــه شـــمه

د ګرمـــی نـــه یمـــه بلـــه ده ســـره لمبـــه نـــه شـــمه

ایـــره ایـــره نـــه شـــمه

ډېـــر مـــې یـــاد پړی د خپـــل چـــم زیـــړ مـــازدیګر لـــه ځمـــه

د غرونـــو ســـر لـــه ځمـــه

تـــا بـــر کنـــډۍ کښـــې چ غـــوزی چـــې شـــو کـــول لالیـــ !

ما به خ ـدل لالیـ !
لانـــدې چـــې را بـــه غلـــې غـــوزان بـــه دې څنـــډل لالیـــ !

ما ټولول لالیـ !
یخـــه هـــوا بـــه لګیـــده هغـــه منظـــر لـــه ځمـــه

د غرونو سر له ځمه
هغـــه چینـــه، هغـــه چنـــار، هغـــه قطـــار د جونـــو

ښائسته وه لار د جونو
مـــا هلتـــه بیـــا بوځـــه چـــې وانـــه خلـــې ازار د جونـــو

ګو م بهار د جونو
منګلـــ ! تـــۀ کـــه مـــې اســـیر ئـــې نـــن ســـحر لـــه ځمـــه

د غرونـــو ســـر لـــه ځمـــه

☆☆☆

ɔ

عقل کار پرېښو په راستې بې خوده کېږو به نه
چې مخ ښکاره کړو لېونې بې خوده کېږو به نه

د غرۀ ساده شپونکی په خوله کښې ئې شب ې وسوله
غږېږې بیا تورې شپېلې بې خوده کېږو به نه

چې چرته کرکه وی، نفرت وی هلته عقل نه وی
چې محبت وهی سلګۍ بې خوده کېږو به نه

وخت چې څه غواړی هغه تار ستا ستا په رباب کښې نشته
دی ستا سندرې لرغونې بې خوده کېږو به نه

دلته په سپینه ورځ د پوهې نه م روم دی ۰ ق
ته چې لا وسپړی کمڅې بې خوده کېږو به نه

منګل! ستا ډېرو ګیلو هغه پښېمانه کړله
راغلې وه څه په خوارۍ بې خوده کېږو به نه

☆☆☆

ے

سپینې سپینې خلې، د تورې شپې وعدې؟
عمر دے چې تېر شو په وعدې وعدې

وا به خلو قدم د نوی وخت سره
ځه چې بیا له سره کړو زړې وعدې

سا را کښې راوګرځی ژوندے شمه
زۀ چې کړم رایادې د هغې وعدې

ماته د هاړ تنده ښه معلومه ده
زۀ یم سوزولے د غرمې وعدې

بس دے چرته یو نیمه پوره خو کړه
ډېرې دې په غاړه واوړېدې وعدې

تا منګ ! ه څه کښې ګرمی واخلی
ښکلی خو کوی ساړې ساړې وعدې

☆☆☆

ه

هر سړی رد کړمه قابل ئې د نصاب نۀ کړمه
تا چې تور ټکے د خپل سپین مخ د کتاب نۀ کړمه

وینه مې ورکړله موسم تۀ رنګ ې رانه وړلو
ډېر پسرلی راغله او لاړ زۀ چا ګلاب نۀ کړمه

غرض مې دا وی چې زۀ تا نه بیخی بېرته نه تلے
ویره مې دا وی چرته تا زۀ په عذاب نۀ کړمه

د وخت خوارۀ به څنګه اخلمه د وخت ظالم نه
د وخت ترخو باندې چې ځان خانه خراب نۀ کړمه

زۀ چې اسیر د خپل جانان نۀ شومه پاتې راغلم
منګا ! بې له مینې چا څه کښې حساب نۀ کړمه

☆☆☆

O

چې شپه شوه لوز ینه ګل لاے لکه راځی
دا اپشمه داسې . ی پسرلے لکه راځی

خبره ګنګوسه ده کلے ټول قیصه قیصه
د ډېرې مودې پس څوک لېونے لکه راځی
په تا ونه لګېږی هغه ستا د لاسو اور
نن مخې له رانۀ شې اسوېلے لکه راځی
وخت ځی په منډه منډه رشتې شاته غورځوی
اوس کوم خپل ته چې ګورمه پردے لکه راځی
خوارۀ وارۀ اوربل کښې ږدی ګلونه د شړشم
په تکو تورو غرو مازدیګرے لکه راځی

منګل دې چې اسیر کړو د پښتو په تور نن بیا
محفل ته دې جانانه غلچکے لکه راځی

☆☆☆

O

نۀ کؤم ګیله کۀ مې اشنا پوښتنه نۀ کوی
زړونه شولو کانې څوک د چا پوښتنه نۀ کوی

لرې کړه کچکول نور ئې په غاړه ګرځوے نۀ شم
ښکلی بادشاهان دی د ګدا پوښتنه نۀ کوی

زلفې راخورې کړه دغه شپه ډېره اوږده ښه ده
ستا غېږ کښې چې پرېوزی د سبا پوښتنه نۀ کوی

ما وې جوړ دروغ دی په دروغو مې ویښتۀ سپین کړل
دا نۀ وم خبر چې مې رښتیا پوښتنه نۀ کوی

نېغ ورم دیدن ته د تش لاس بیخی پروا ۀ کم
مینه چې کوی څوک د دنیا پوښتنه نۀ کوی

یار مې د مودو دے زۀ منګل باندې پوهېږم ښۀ
وی به بیا اسیر نن کۀ زما پوښتنه نۀ کوی

☆☆☆

ه

څه بده ورځ ده سر ئې نه وی سر خوړلے ښکاری
زما په کلی کښې چې کوم سړے ښاغلے ښکاری

وایم چې ټول د دنیا ښکلی سپیلنی کړم ورته
څو ره تور سکڼ چې دے لالے دومره سپېڅلے ښکاری

ما هغه پریښے دے ازاد زۀ ئې رقیب نۀ ګڼم
لاسونه پښې کۀ وهی ډېر خو خدائی وهلے ښکاری

اوږدۀ بانۀ لکه ښښتر سترګې ئې ډک سیندونه
زما جانان زما د کُرمې نه هم ښکلے ښکاری

چې د سپوږمۍ له پلوشو به جوړیدل ټالونه
په هغه ځائې کۀ ې اوس د دوو مئینو څلے ښکاری

منګل! خپر دے کۀ په ما باندې باور نۀ کوی
وارخطا یار ته اوس شکی زمونږ ټول کلے ښکاری

☆☆☆

O

تۀ خو رانغلې اوس رڼا وایه له چا راوړمه
هسې دې وې چې سپینه خولۀ درته په غلا راوړمه

د وینو ډنډ نه چې راوخېژی تک سرۀ ګلونه
زۀ دې تاوژن ګی ته نن تازه هوا راوړمه

حېرانی نۀ ده که تیارو کښې ګنګوسې خوربږی
زۀ چې لیتکے شمه، شغله شمه رڼا راوړمه

چې سپرلے راشی جې ډکې کړی ولې له ګلو
زۀ د دې شوم وخت نه ستا شونډو ته خندا راوړمه

دې یویشتمې صدۍ هم زما تصویر جوړ نۀ کړو
ورانه څېره د بو له دنیا راوړمه

نه به لوګے وی نه به دوړه ی خوره منګل!
د ګلو ښار ته که د ګل وږمې رښتیا راوړمه

☆☆☆

○

کلے ټول چې اودۀ پروت وی
ستا تصویر مې په زړۀ پروت وی

ټوله شپه زوتوی ښکلی
ټوله ورځ په غارمۀ پروت وی

ستا د یاد واوره ئې سوزی
لېونے په سارۀ پروت وی

چې ښائست پسې ګ ځېږی
چې مئین وی څۀ به پروت وی

تورو چېودر[1] کښې ئې ګوره
ستا منګل به په غرۀ پروت وی

☆☆☆

---

[1] غارونه

O

لکه د شمعې سوزؤمه زړګے
ماښام چې تور شی بلؤمه زړګے

چې ووینم څوک دیو بل په غوښو
زه ځان ته کښېنمه بیا خورمه زړګے
ستاسپین ټیکرے مې غړوندے شي پښو کښې
زه چې له تانه تورؤ ه زړګے
په دغه چم کښې رانه پریوتلو
په دغه چم کښې لټومه زړګے
تۀ په ازغو څیرې کوه مې ځیګر
زۀ به په ګل ټکورؤمه زړګے
یو نظر بیا ستا د دیدن دپاره
ټوټې ټوټې راټولؤمه زړګے
زۀ ځان له نه یم زه که ځان له ناست یم
زۀ دنیا ګورم یادؤمه زړګے

منګله تور او سپین معیار خو دے
چې څوک مې خوښ شي ورکؤمه زړګے

☆☆☆

O

د شوخو سترګو پو وړے یمه
په توره شپه کښې کُرمې وړے یمه

دا د هجران مزلې نۀ لنډېږی
غېږ کښې مې نیسه یاره سترے یمه
مرګ به مې مړ کړی ورکوے مې نۀ شی
بېرته زرغون به شمه زړے یمه
هغه چې مینه پرې لیدلے نۀ شی
زۀ هغه سترګو ته خسنے یمه
له دائرې اوځم او نۀ پوهېږم
زۀ د دنیا هغه وګړے یمه
دنیا په وړاندې ځی زۀ وروستو راځم
خپلې مرۍ ته لکه پړے یمه

تورو کمڅو کښې مې اسیر کړلو ځان
منګلا! زۀ د رڼا غړے یمه

☆☆☆

○

یو م زیګر د تېر ژوندون ډالۍ کړی
ماته به څوک زما پرون ډالۍ کړی

زلفې او مخ ئې پېروزئینې کوی
یو راله شپه بل سباؤن ډالۍ کړی

مینه کښې ښکلی ضابطې نه منی
چاته بۀ زړۀ پۀ کوم قانون ډالۍ کړی

مونږه شېرشاه په دعاګانو غواړو
وخت زورور دے همایون ډالۍ کړی

تیرې به ډېرې شوګېرې کړم ورته
کۀ خوب ته څوک راله زنګون ډالۍ کړی

منګل! بیا به مې ا یر نۀ کړی څوک
خدائی راتۀ خویۍ کۀ د پښتون ډالۍ کړی

☆☆☆

O

سترګې دې مۀ اړه لولمه تحرير د حُسن
زۀ په رڼو چينو کښې ګورمه تصوير د حُسن

چې زمونږ زړونو او ذهنونو نه تيارې لرې کړی
خدايه په ټول کلی تۀ راولې امير د حُسن
ق دې غرونه لټوی ورپسې ځی دې بره
ما ستا ه زلفو کښې موندلے دے کشمير د حُسن
لکه مهے زړۀ نخښلوی ونډے ونډے زلفې دې
بيا په اوږو باندې دې ايښے دے منګير[1] د حُسن
چې زۀ ئې ټول عمر په در کښې مُريدی وکړمه
چرته وسپړی راته وښ يئ يو پير د حُسن

بيا د نفرت کور کښې ايسار يوه ګړی هم نۀ شو
تا چې منګل نه کله جوړ کړلو اسير د حُسن

☆☆☆

---

[1] کونډه: چې خلق پکښې مايان نيسی.

○

ښکلی که ډېر مې شول یاران یو مې زړګے نه کړلو
ما په دې کانو کښې پېدا چرته غمے نه کړلو

چې زمانه د سیالۍ راغله مونږ شو لاس او ګرېوان
وخته په مینه راته پوئے دې یو زلمے نه کړلو
مانه فطرت د بلبل نه ځی زۀ سندرې وایم
تۀ که ګل نه شولې موسم دې پسرلے نه کړلو
توري لښکرې چې خورې شی ښکلې نه راوځی
ما یو ګټ پیر کښې بیا سهی چرته لالے نه کړلو
راتلو سره دې توري زلفې راخورې کړې په مخ
تا د ماښام نه مخکښې زیړ مازدیګرے نه کړلو
چې د دې وخت درنې څپېرې باندې وژاړی لږ
ما خپلو خلقو کښې یو زړۀ داسې نرے نه کړلو

نن که په ښار کښې دے اسیر د کلی نوم نه اخلی
ګرمه خو تۀ ئې چې منګل دې لیونے نه کړلو

☆☆☆

ه

حسن له ډېره نزاکته زېږوی شکونه
زما په ښکلی دے باور په ما دې کړی شکونه

ته څه خبر ئې، دغه کلے په یوه پ هېږی
ته څه خبر ئې، درانۀ کلی رنګوی شکونه

د دې سړی د زړۀ تیاره به یو الله ورکوی
چې ستا د مخ رڼا ته ناست دے هم کوی شکونه

هغه به نور وی چې سپوږمۍ ئې بره ځان له غواړی
په مونږ اختر ګډوډی مونږ له راوړی شکونه

هر یو سړے په ضمیر ناست دے باور پاتې نه دے
دلته به وک وی چې لۀ زړونو اوباسی شکونه

توري وریځې د ر مخ ته ټینګېدلے نشی
منګل چې یار ووینی ببرته ګرځوی شکونه

☆☆☆

O

د ګل ماتم کوی سپرلی یادوی
هغه چې ځانله شی ځوانی یادوی

دشهید وینه ژوند ته رنګ ورکوي
جونه ښادۍ کښې میړني یادوي

ګرېوان ګنډم بندؤم خُلې د خلقو
ما به تر څو په لېونی یادوی

خور وي په هرې ښادۍ سورے دجنګ
میاندې چې کښیني ګلالی یادوی

زۀ ښیادم یم زۀ په غم ښکلے یم
د مرګ نه پس خلق سړی یادوی

منګل نن لیکی مرثیه د ګودر
شړنګ د بنګړو، کړنګ د منګی یادوی

☆☆☆

ه

بیا چنارونو نۀ د شنو بنګړو شرنګا وخته
که نۀ په ما نشه د بنګو په رښتیا وخته

تۀ به تر څو د بې لوظۍ په شپه کښې مخ پټ ې
زۀ بېرته نه ځمه کۀ سترګه د سبا وخته

غاړه ئې راکړه ترمو اوښکو ئې ټکور نه کړمه
هغه زما په نامه ناسته د بل چا وخته

د ګلو لښته که هر ځائې کښې وی ورمی ئې راځی
د ق دې وائی چې زما تشه دنیا و ته

زما د مرګ خبر منګ ! چا ته ونه وائی
زۀ خو ژوندے ، وم چې د یار غېږ کښې مې سا وخته

☆☆☆

○

رپېږی ټوله له هېبت، راځه چې مینه وکړو
دا نیا غواړی محبت، راځه چې مینه وکړو

زما ګرېوان ولې شلوې زۀ تنۍ هم نۀ لرم
بس دے نور پر ږده شرارت راځه چې مینه وکړو

نور ئې نۀ زمکه نۀ اسمان خدائ ګو که تاب راوړے شی
وکړلو مونږ دومره نفرت، راځه چې مینه وکړو

د اور په ژبه پوپنا به کړی خپل ځان او جهان
که ورکوې چاله شکست، راځه چې مینه وکړو

دا چې زما او ستا ترمینځه فاصلې زیاتوی
ولګی اور دې په دولت، راځه چې مینه وکړو

منګ ! سا دې ه پردۍ بې ځایه ضد مۀ کوه
هسې نه جوړ شی قیامت، راځه چې مینه وکړو

☆☆☆

ج

دخپلـو اوښـکو پـه رڼـا مئـين ليکـي خطونـه
خوښـه ديـار ده چې ئې لـؤلي کـه شـکوي خطونـه

وختـا ! هنـر دې د ريبـار منـت نـه خـلاص کـړےيم
لکـــه کـــوتره دجانـــان ماتـــه راوړي خطونـــه

جانانه ګونجې به ښائست کښې دې تـا فـرق راولـي
جانانـــه مـــه راکښـــه تـــه ماتـــه پـــه تنـــدي خطونـــه

وخـت کـه ارزښـت ئـې کمـوي زه ئـې پـروا نـه کـؤم
ماسره نن ئې هم صندوق کښې دي خونـدي خطونـه

جانان په ښار کښې دے اسير کلي ته نۀ شي راتلے
منګلـــه تـــۀ چاتـــه ليکـــې دپســـرلي خطونـــه

زما یاره ټلواله

ټوپۍ دې په سر ایښې ده کړه له ډېره خیاله
زما یاره ټلواله

لږ پام دې کا بدل درته څوک ګوري له دیواله
زما یاره ټلواله

لیدلے دې خپل ځان دے نور خبر نه ئې دځه نه
چې نه کوې پوښتنه

که تۀ نرے چنار ئې دلته شته دګلوونه
ښائسته نازک بدنه

راځه چې چرته کښینو دې دنیا ه یوې خواله
زما یاره ټلواله

هغه چې کله ته به په اتڼ کښې ډېدلې
روروبه تاويدلې

زلمي درنه چاپير وو مخکښې وروستو به کيدلې
په زړۀ راوريدلې

هيريږي چا نه کله ستا بلبله کرمې واله
زما ياره ټلواله

تۀ وګوره جانانه ټول رنګونه دسپرلي دي
وختونه ګل لالي دي

منګل يو اسير نه دے نوره هم بلا زلمي دي
دمينې ليوني دي

قيامت قيامت ځوانۍ ئې هر سړے کړلو بې حاله
زما ياره ټلواله

☆☆☆

د پلار په قبر

څوک به درنا خبرې وکړي توره شپه کښې
ته چې غلے پروت ئې په دې خوشي هدیره کښې
کله بیا د سرۀ پلنګ خوبونو ته پسخیږي
څملي چې یو ځل څوک ددې خاورو بستره کښې
هیڅ خبر دې ر غے کۀ ډېره موده اوشوه
وخت دې څنګه تېر کړو په دې نوې استانه کښې

تا ئې چې په مینه تېرول به داستانونه
نشته هغه واورې نۀ دجګو غرو سرونه
نۀ چغزي غوزان شته نه مندتې تکې سپینې
نه وریژې دکرمې او نۀ شنۀ شنۀ چنارونه
ته چې راسره وې نغرے وو زمونږ ګرم
ته چې لاړې ورک ، ؤل دمنګلو کاروانونه

دلته څوک راغلی کۀ په اور باندې وراتۀ دی
اوس ئې په قبرونو ټوکېدلی شنۀ وابنۀ دی
وی کۀ ډېر خوارۀ هم څوک ئې نۀ کوی پوښتنه
تاسره په خوا کښې د دنیا خلق اودۀ دی

تا خو به ګرمی په لوړو غرو کښې تېرؤله
اوس لکه خوددار شولې رګونه دې ساړۀ دی

زۀ چې ړم رایادې هغه ستا درنې خبرې
څک مې شی په ملا کښې ګېر مې کړی د غم لښکرې
ښه ده بابا جا ! څۀ خو پاتې شو لۀ تا نه
تا چې دی شیندلې خپلې خلې نه ملغلرې
زۀ به پرې ټکور کړم د ویشتلیو پرهرونه
زۀ به ورنه جوړې کړم د غم ډکې سندرې

د پلار د مرګ نه یو کال پس ..... ؛ مې ۱۹۹۲ء

☆☆☆

غوټۍ سپړې ګلونه

په غرو باندې ننبترې لاندې شنۀ شنۀ چنارونه
غوټۍ سپړې ګلونه
په خوا کښې د چې و ځانګو نیولی انارونه
غوټۍ سپړې ګلونه

×

د تورې کېږدۍ خوا ته تکه سپینه ده ولاړه
اوږۍ ئې ده په غاړه
د چا لارې ته ګوری دا د چا په خیال کښې لاړه
اوږۍ ئې ده په غاړه
کاږۀ ږۀ زلفان ئې کوی مخ سره جنګونه
غوټۍ سپړې ګلونه
د خوږ سره زلمی اخته په غم کښې د روزګار دی
اوښان قطار قطار دی
څوک ناست چغې وباسی څوک روان په ۍ لار دی
اوښان قطار قطار دی
کارون د جدائۍ سکنې د جونو تنکی زړونه
غوټۍ سپړې ګلونه

×

منګل شولو د ښار خو زړۀ ئې غرونو کښې اسیر دے
اخته د ځاڑ په ویر دے

تۀ کله کله اخله ئې خبر د خدائی فقیر دے
اخته د ځاڼ په ویر دے
باګرام د ګلو بڼ دے رالېږه ګل ګل خطونه
غوټۍ سپړی ګلونه

☆☆☆

یو شعر
رنګ مې شی زیړ سترګې مې سرې بې واره وژاړمه
ستا د تصویر مخې ته کښېنم یاره وژاړمه

.....

ستا له مخه

چې مسکے پکښې انسان دے ستا له مخه
څومره ښکلے دا جهان دے ستا له مخه

په ما شوے لوئی احسان دے ستا له مخه
پېژندلے مې چې ځان دے ستا له مخه

د تیارو نه ئې هیڅ وېره ترهه نشته
څوک چې پړق کوی روښان دے ستا له مخه

چې علاج د هر رنځور زړۀ پکښې شته دے
رالېږلے خدائی ق ن دے ستا له مخه

د یو بل د وینو تږی رمخان و
دا انسان کۀ نن انسان دے ستا له مخه

ستا د نور نه بغېر څۀ دی زندګۍ کښې
کۀ زمان دے کۀ مکان دے ستا له مخه

لکه پهې پرهرونو باندې لګی
ما لیکلے کوم عنوان دے ستا له مخه

چې فطرت ځان پېژندو تۀ ئې پېدا کړې
د ژوندون هر یو داستان دے ستا له مخه

زۀ منګل ناست یم لیکم د نعت شعرونه
خدائی په ما نن مهربان دے ستا له مخه

پښتون شه

یا چې زۀ دې یو مثال وړاندې کؤمه
یا ببخی په بل صورت په بل مضمون شه
یا دعوٰی د پښتانۀ پرېږده پښتون!
یا پښتو په غېږ کښې ونیسه پښتون شه

☆☆☆

یو چغه ئی اختر شی

سپوږمۍ چې په سکنې مانښام کښې لږه رابهر شی
یو چغه شی اختر شی
شپه اوکړی غزۍ نوے رنګ نوے سحر شی
یو چغه شی اختر شی

موسم کۀ د خزان وی ګفیت د سپرلی راوړی

هر چاته مستـی راوړی
د مینې غوټۍ ګل چې شی وطن رنګینی راوړی

د زړۀ خوشحالی راوړی

نفرت په مخه زغلی محبت ورته سنګر شی
یو چغه شی اختر شی

نکریزې دی چې نن پرې د هر چا لاسونه سرۀ دی

رنګ ونه راخـــوارۀ دی

د چا په دنیاګی کښې پټ یادونه مېلمانۀ دی

هیڅوک ترې خبر نۀ دی

د زړۀ په شیش محل کښې چې څوک کښېنی بختور شی
یو چغه شی اختر شی

دا وخت ئې چې نن وائی دا زما او ستا قیصه ده

د مینې تـــرانه ده
منګۍ ! که خیال وکړې څومره ښکلې زمانه ده

په مونږ باندې ئې شپه ده

راځه چې مینه اوکړو ټول غمونه به ډبر شی
یو چغه شی اختر شی

☆☆☆

د کور خبره

څۀ خو لږ خیال د ړنګې خونې وکړه
بس ډېره وشؤله سنګر پرېږده
د کور خبره ده خلاصېږی په کور
توره دې کېږدوه نور شر پرېږده

بې نومه

سخته زغملے شم منت مې نۀ زده
په ډېرو تېرو کښې محرومه ۀ یم
ستا د وحدت مزے چې ونۀ شلېږی
زما کۀ نوم نشته بې نومه ښۀ یم

☆☆☆

دعا

توره شپه په پښتنو خدایه سبا کړې
د خوشحال غوندې یو بل پکښې پیدا کړې
څوک کۀ بره دے مېشته کۀ څوک دے ښکته
هر یو زړۀ د نوی وخت په نمر رڼا کړې
په سور لمر چې همایون د وخت باندې ستې کړې
یوځل بیا په مونږه سیورے دشپرشا کړې
چې نړۍ مو دجل ننداره اوکړې
د میرویس دابدالي وختونه بیا کړې
چې نه دوړه نه لوګے وي دباردودو
بختوره د باچا خان پښتونخوا کړې

خپل اختیار ئې چې دبل په لاس کښې نه وي
دمنګل خدایه قبوله دا دعا کړې